# زه روبوټ یم

لیکوال
آیزک آسیموف

ژباړونکی
رحمت شاه فراز

Ketabton.com

کابل؛ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پېژندنه**
**د کتاب نوم:** زه روبوټ یم
**لیکوال:** آیزک آسیموف
**ژباړونکی:** رحمت شاه فراز
**کمپوز او ډیزاین:** رحمت شاه فراز **078-063-48-38**

**ایمیل:** rsfaraz4@gmail.com
**فېسبوک:** RS Faraz
**واټساپ اړیکه:** **0092 311 42 25 611**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لیکوال پېژندنه

آیزک آسیموف د جنوري په دوهمه، ۱۹۲۰ کال په روسیه کې نړۍ ته سترګې پرانیستې. آسیموف درې کلن وو چې کورنۍ یې امریکا ته کډه شوه. کورنۍ یې په نیویارک ایالت کې ګڼ پلورنځي درلودل. د دوی په پلورنځیو کې چې د ساینسي افسانونو مجلې خرڅېدې، زلمي آیزک یې په لوست لاس پورې کړ. ده له کیسو سره ډېره مینه لرله او پخپله یې هم د ساینسي افسانونو لیکل پیل کړل. دی چې نولس کلن وو، د ساینسي افسانو په مجلو یې خپلې کیسې وپلورلې.

د مجلو خپروونکو به د آسیموف د کیسو په بدل کې پیسې هم ورکولې، خو په کیسو، ګټلو پیسې یې د ژوند څرخ نه تاوېده، نو خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ او څه موده وروسته یې کولمبیا پوهنتون ته مخه کړه او په ۱۹۳۹ کې یې په کیمیا کې لیسانس واخیست. بیا یې یو څو کاله د امریکا په پوځ کې عسکري وکړه. په ۱۹۴۵ کې چې دوهمه نړیواله جګړه پای ته ورسېده، نوموړی بېرته کولمبیا پوهنتون ته راستون شو او په ۱۹۴۸ کې یې په بایوکیمیا کې دوکتورا واخیسته. له ۱۹۴۹ نه تر ۱۹۷۹ پورې یې د بوسټن پوهنتون په طبي پوهنځي کې بایو کیمیا تدریس کړه. په یاد پوهنتون کې د تدریس ترڅنګ آسیموف لیکوالي هم کوله. تر ۱۹۵۸ کال را دېخوا، د آسیموف زړه ته ولوېده چې نور یې له تدریس سره علاقه نشته او غوښتل یې چې لیکوال شي.

آیزک آسیموف په ۱۹۴۲ کې له جرټروډ بلوجرمن سره واده وکړ او دوه زامن یې ترې پیدا شول. آیزک او جرټروډ ۲۸ کاله د واده په تار تړلي وو، خو په ۱۹۷۰ کې یې طلاق واخیست او آیزک په همدې کال یو څه موده وروسته، له جینیټ جیپسن سره واده وکړ.

په ۱۹۴۱ کې، روبي، چې د دې کتاب لومړنۍ کیسه ده، چاپ شوه. تر دې وروسته، آسیموف د روبوټونو په باره کې د کیسو یوه لړۍ ولیکله. په ۱۹۵۰ کې یې خپلې کیسې را ټولې کړې او ټولې یې یو ځای د ((زه روبوټ یم)) تر عنوان لاندې خپرې کړې. ورپسې آسیموف د ساینسيـ افسانونو د کتابونو په یوه نوي کلکسیون کار پیل کړ او دې کتابونو ته یې د ((بنسټ)) نوم ورکړ. په دې کتابونو کې، آیزک د ملتونو او نړۍ د راتلونکي په باره کې لیکنې کړې، خو کیسې یې د تاریخي کتابونو په سبک لیکل شوې. د آسیموف بنسټ نومي کتابونه د ده د روبوټي کیسو په حیث ډېر زیات مشهور شول. نوموړی د خپل وخت د ساینسي افسانو له درې سترو لیکونکو څخه وو، چې دوه نور یې آرتر سي کلارک او رابرټ هینلین وو.

آسیموف تر ټولو زیات د خپلو ساینسي افسانو له کبله شهرت لري، خو ده په نورو موضوعاتو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


کتابونه لیکلي. نوموړي تاریخي کتابونه، ژوندلیکونه، د نصاب ساینسي کتابونه او د ساینسي افسانو په هکله مقالې هم لیکلې. دغه راز، د ماشومانو لپاره یې هم یو شمېر کتابونه لیکلي. د آسیموف تر څلور سوو زیات کتابونه او په سوونو مقالې چاپ شوې دي. آیزک آسیموف د ګڼو جایزو ګټونکی هم دی.

آیزک آسیموف د ۱۹۲۲ کال، د اپریل په شپږمه له دې نړۍ سترګې پټې کړې. د ساینسي افسانو د نورو لیکوالو پرخلاف، د نوموړي لیکنو او آثارو تر دې دمه خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی. ډېری هغه نظریات چې آسیموف په خپلو لیکنو کې وړاندې کړې، نن ورځ په حقیقت بدل شوي او ممکن ځینې نظریات یې په راتلونکي کې عملي بڼه خپله کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دې کیسو په هکله یو یادښت

آسیموف چې په ۱۹۳۰ کلونو کې د روبوټونو په هکله کیسې ولیکلې، لا هم فضا نه وه کشف شوې او هېڅ انسان د ځمکې له جاذبه قوې نه وو وتلی او په فضا کې یې پښه نه وه ایښې. دغه راز، فضایي تمځایونه هم نه ول. لومړنۍ مصنوعي سپوږمکۍ چې فضا ته وختله، سپټنیک نومېدله، چې روسي ساینسپوهانو جوړه کړې او په ۱۹۵۷ کال کې فضا ته واستول شوه. په ۱۹۶۹ کې امریکایي ستورمزلي، نیل آرمسټرانگ لومړی ځل په سپوږمۍ پښه کېښوده. نن ورځ، په فضا کې نړیوال فضایي تمځای شتون لري او د بېلا بېلو هېوادونو ستورمزلي او ساینسپوهان د شپږو میاشتو په موده هوري پاتې کېدی شي. په دې سربېره، ساینسپوهانو د نورو سیارو مثلاً مریخ، عطارد، اورانوس، نپتون، زحل او مشتري په هکله د څېړنو لپاره لمریز نظام ته هم سپوږمکۍ استولې دي.

اوسمهال، زیاتره روبوټونه ساده ماشینونه دي، ځینې روبوټونه په کورونو کې پاک کاري کوي او یو شمېر یې په فابریکو کې توکي جوړوي. ساینسپوهانو یو شمېر داسې روبوټونه هم جوړ کړي چې گرځېدی او د انسانانو په څېر خبرې اترې کولی شي. خو کوم وخت چې آسیموف خپلې کیسې لیکلې، روبوټونو شتون نه درلود او تر دې دمه لا نه وو اختراع شوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


آسیموف په دې اند وو چې په راتلونکي کې به روبوټونه ټول پېچلي او ستونزمن کارونه وکولی شي. د ده په کیسو کې روبوټونه ځیرک ماشینونه دي، چې فکر او زده کړه کولی شي. خو آسیموف په دې باور وو چې ممکن خلک له دې ماشینونوووېرېږي. نو، د روبوټونو لپاره یې درې قوانین هم وضع کړل چې هر روبوټ باید غاړه ورته کېږدي. درې واړه قوانین باید د جوړېدو پر وخت د هر روبوټ په حافظه کې ځای پر ځای شي. دغه قوانین د روبوټونو چلند کنټرولوي او خوندي موجودات ترې جوړوي.

آسیموف غوښتل چې په خپلو کیسو کې وړاندې کړی ساینس د امکان تر کچې واقعیت ته نږدې کړي. نوموړي له ساینسي لغتونو او نظریاتو پرېمانه استفاده کړې. دغه راز د خپلو کیسو لپاره یې یو شمېر خاص الفاظ هم منځته راوړي، تر دې چې ځینې لغتونه یې د انګلیسي- ژبې یوه برخه ګرځېدلي دي. مثلاً اوس چې خلک د روبوټپوهنې په هکله خبرې کوي، نو Robotics ورته کاروي، چې د آسیموف اختراع کړې کلمه ده.

د ((زه روبوټ یم ۲۰۰۴) په نوم فلم هم د دغه کتاب له نوم سره ورته دی، خو په فلم کې د دې کتاب یوه کیسه هم نه ده راغلې. دغه فلم د یوه بل لیکوال پر کیسه جوړ شوی، خو په فلم کې د روبوټپوهنې په هکله د آسیموف یو شمېر نظریات انځور شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ساينسي افسانو هغه کلمې چې آسيموف اختراع کړې

* **ټاکسي جايرو (taxi-gyro):** هغه ټاکسي چې الوتلی شي.
* **ويزيووکس (visivox):** په راتلونکي کې يو ډول تياتر.
* **پوزيتروني ماغزه (positronic brain):** يو ډول ټکنالوژي چې له مخې يې روبوټونه د روبوټپوهنې درې قوانينو ته غاړه ږدي.
* **کنورټر (converter):** هغه ماشين چې د لمر انرژي جمع کوي، حالت يې بدلوي او بيا يې ځمکې ته استوي. دغه انرژي د يوې وړانگې په شکل استول کېږي.
* **الکتروني توپان (electronic storm):** د الکترونونو (منفي برق) لويې وريځې چې توپانونه جوړوي او د الکترونيکي ماشينونو لپاره ستونزې جوړوي.
* **ايل ټيوب (L-tube):** د کنټرول يوه برخه.
* **د وړانگې مدير (beam Director):** هغه ماشين چې د انرژۍ وړانگې ځمکې ته استوي.
* **امپريشن (impression):** د جوړېدو په وخت کې د روبوټ په پوزيتروني ذهن کې قوانين يا پوهه ځای پر ځای کول.
* **د روبوټونو ارواپوهه (robot-psychologist):** هغه څوک چې د روبوټونو چلند څېړي.
* **روبوټپوهنه (robotics):** هغه پوهه چې روبوټونه څېړي.
* **مټريکس ميخانيک (matrix mechanics):** د رياضياتو يو ځانگړی او پرمختللی ډول.
* **هايپر اټومي انرژي (hyperatomic energy):** د انرژۍ هغه ډول چې له اتومي انرژي خورا ډېره قوي ده.
* **هايپر اټومي ډرايو (hyerpatomic drive):** هغه ماشين چې خورا قوي انرژي مصرفوي. په دې کيسو کې فضايي بېړۍ د نور په سرعت حرکت کولی شي، ځکه چې هايپر اټومي ډرايوونه لري.
* **هايپر بيس (Hyper Base):** يو خاص فضايي تمځای چې هلته هايپر اټومي انرژي توليدېږي.
* **ويډيوفون (videophone):** هغه ټيليفون چې په هغه کې مقابل لوری ليدلی هم شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱)

## ډاکټر سوزن کالوین – د روبوټونو ارواپوهه

### د روبوټپوهنې درې قوانین


1. یو روبوټ باید انسان ته زیان ونه رسوي. او نه باید یو انسان زیانمنېدو ته ورکړي.
2. یو روبوټ باید د انسان هر امر پر ځای کړي، مګر دا چې دغه امر یې له لومړي قانون سره په ټکر کې وي.
3. یو روبوټ باید د خپل ځان ساتنه وکړي، مګر دا چې دغه ساتنه له لومړي او دوهم قانون سره په ټکر کې وي.

د روبوټپوهنې لارښود کتاب، ۲۰۵۸ زېږدیز

خپلو یادښتونو ته مې وکتل او یو مې هم خوښ نه شو. زه په نیویارک کې د امریکایي روبوټونو شرکت ته راغلی وم. غوښتل مې چې د روبوټونو له مشهورې اروا‌پوهې، ډاکټر سوزن کالوین سره خبرې وکړم او پر هغې یوه مقاله ولیکم. خو درې ورځې تېرې شوې وې او تر اوسه پورې مې یوازې د ډاکټر کالوین د کاري ژوند په اړه کې معلومات موندلي وو. دغه حقایق بسنده نه وو. ما غوښتل چې د روبوټونو د جوړونې په هکله د هغې په افکارو او احساساتو ځان پوه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوزن کالوین په ۱۹۸۲ کال کې زېږېدلې. په همدې کال لاریسن رابرټسن د امریکایي روبوټونو شرکت جوړ کړ. په شل کلنۍ کې سوزن، ډاکټر الفرډ لیدلی وو چې لومړنی روبوټ یې ننداري ته وړاندې کړ. دې روبوټ خبرې او حرکت کولی شوی. یاد روبوټ چې په مریخ باندې د څېړنو لپاره جوړ شوی وو، ډېر ستر او بدرنګه ماشین وو.



سوزن یوه جدي او ځیرکه نجلۍ وه او ښوی مخ یې درلود. له خلکو او شاوخوا شیانو سره به یې سوړ چلند کاوه. خو دې چې روبوټونه ولیدل او له ډاکټر لانینګ سره یې خبرې وکړې، نو یو څه د خوښۍ او هیجان احساس یې وکړ.

تر ۲۰۰۲ کال پورې کمپیوټرونه د روبوټونو د «مغزو» په توګه استعمالېدل. بیا یو څو کاله وروسته، ډاکټر رابرټسن پوزیتروني ماغزه اختراع کړل. تر دې وروسته، سوزن پخپله هم پوزیتروني ماغزه ډیزاین کړل. په ۲۰۰۷ کال کې، سوزن د امریکایي روبوټونو له شرکت سره یو ځای شوه. نوموړې په دې شرکت کې روبوټ-ارواپوهه وه. پنځوس کاله یې په روبوټونو څېړنه وکړه او دا یې وموندل چې د دوی ذهنونه په څه ډول کار کوي. دې ساینسپوهان ولیدل چې داسې روبوټونه جوړوي چې تر پخوا ډېر ځیرک او ځواکمن دي. اوسمهال سوزن پنځه اویا کلنه وه او په امریکایي روبوټونو شرکت کې یې کاري موده پای ته رسېدلې وه. دې تقاعد اخیسته.

همدا هغه معلومات وو چې د خپلې مقالې لپاره مې ترلاسه کړي وو. خو ما د نوموړې ډاکټرې په هکله لا ډېر شخصي معلومات غوښتل.

ډاکټر کالوین ته مې په مسکا وویل: ((هیله کوم له روبوټونو سره د خپلو تجربو په هکله راته وغږېږئ. زه غواړم چې ستاسو او له روبوټونو سره ستاسو د ژوند په هکله پوه شم. زه غواړم چې ستاسو خپله کیسه واورم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوزن راته ونه موسکل. زه فکر نه کوم چې هغې دې کله خندلي وي. خو غوسه هم نه ښکارېده. هغې ناڅاپه وپوښتل: ((د څو کلو یې؟)) د هغې ځیرکې او نېغې سترګې په ما کې خښې وې.

ومې ویل: ((دوه دېرش.))

ویې ویل: ((نو ستا به هغه وخت په یاد نه وي چې روبوټونه نه ول. له زرګونو کلونو راهیسې، انسان په شمسي نظام کې تنها ژوند کړی. خو نور نو اوس تنها نه یو. اوس موږ د مرستې لپاره خپل شاوخوا ته روبوټونه لرو او دغه روبوټونه تر انسانانو ډېر پیاوړي، رښتیني او ګټور موجودات دي. آیا په دې اړه دې کله فکر کړی؟))

ځواب مې ورکړ: ((نه، نه مې دی کړی.))

ویې ویل: ((ته چې یوه روبوټ ته ګورې، نو یو ماشین وینې. یو فلزي او برېښنایي ماشین. خو تا له روبوټونو سره وخت نه دی تېر کړی، نو ځکه ته هغوی نه پېژنې. دوی له موږ نه ډېر پاک او غوره دي.))

ورته ومې ویل: ((هیله کوم خپلې کیسې راته وکړئ. ګډستوریزه مجله خپل خبرونه په شمسي-نظام کې تر درې میلیونو زیاتو وګړو پورې رسوي. دوی باید په دې پوه شي چې ته د روبوټونو په باره کې څه وینا ورته لرې.))

خو روبوټ-ارواپوهې زما خبرو ته غوږ نه وو نیولی. هغې د ماضي په باره کې فکر کاوه. ویې ویل: ((رښتیا ده چې پنځوس کاله مخکې امریکایي روبوټونو شرکت داسې روبوټونه جوړ کړل چې په ځمکه استعمالېدل. خو اوس په ځمکه هېڅ څوک هم روبوټ نه لري. خو زما یې یوه بېلګه یادېږي چې روبي نومېدله. زه چې دې شرکت ته راغلم، یو کال وروسته یې هغه روبوټ ټوټې، ټوټې کړ. تر دې وخته پورې، یې تاریخ تېر شوی وو.))

د یو څو شېبو لپاره یې خبرې بس کړې. خو ما هېڅ هم ونه وویل. اخر یې خبره وغځوله.

((روبي غږ نه درلوده. نوموړی نه غږېدونکی روبوټ وو. روبي د دې لپاره جوړ شوی وو چې له ماشومانو ساتنه وکړي. هغه یو ماشوم پالونکی (ایا) وو...))

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۲)

## روبي

((اته نوي! نهه نوي! سل!)) ګلوريا تر ونې شاته پټه وه او په لوړ غږ يې حساب کاوه. خپلې سترګې يې پرانيستې. شاوخوا يې وکتل. روبي يې يوې خوا ته هم ونه ليده. ورو له ونې را وخوځېده.

وړې ماشومې له ځان سره فکر وکړ: ((ممکن کور ته به ننوتی وي. دا خو غلط کار دی. هغه غالې کوي. دی بايد په دې ډول دغه لوبه ونه کړي. ښو ځله مې ورته ويلي.))

ګلوريا د ودانۍ په لور ګامونه واخيستل. ډېر وروسته يې غږ واورېده. ډنګ-ډنګ-ډنګ. د روبي فلزي پښې په ځمکه کړنګېدلې. دنګ روبوټ د خپل پټېدو ځای پرې ايښی وو او د ونې په خوا يې منډې وهلې.

ګلوريا چيغه کړه ((ودرېږه، روبي. ته بايد تر هغو منډه وا نه خلې چې ما نه يې پيدا کړی.)) ګلوريا د ونې په لور منډه کړه، خو روبي ترې ډېر تېز وو. تر ونې داسې لس ګامه لرې روبي ناڅاپه ورو شو. ګلوريا ترې تېره شوه او لومړی يې ونې ته لاس ور ووړ.

اته کلنې نجلۍ چيغه کړه: ((روبي منډې نه شي وهلی!)) ښکته او پورته يې ټوپونه وهل او له خوشالۍ يې خندل: ((ما وګټله! ما وګټله!))

بالکل، روبي هېڅ ځواب ور نه کړ، ځکه هغه خبرې نه شوی کولی. هغه روان شو. ګلوريا هم پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


منډه کړه، خو ډېرې ورو منډې يې وهلې او هغه يې راګير نه شو کړی. اخر، ګلوريا ودرېدله او وي خندل ((ودرېږه روبي! په خپل ځای ودرېږه. اوس زه ځم چې پټه شم.))

روبي د ګلوريا امر پر ځای کړ. خپل سر يې په هو وخوځاوه، مخ يې ونې ته کړ او خپلې سترګې يې پټې کړې. دا ځل ګلوريا د پټېدو ځای ته منډه کړه.

تر پوره سل ثانيو وروسته، د روبوټ سرې سترګې خلاصې شوې او شاوخوا يې وکتل. سمدستي پوه شو چې ګلوريا تر لويې تيږې شاته پټه ده. روبي د هغې د لمنې يوه پيڅکه ليدلې وه. روبي، سوکه سوکه د وړې ماشومې د پټېدو ځای ته ور روان شو. يو لاس يې د هغې خواته اوږد کړ او بل لاس يې په فلزي پښه ولګېده، کړنګ يې شو.

ګلوريا له تيږې هاخوا ته لاړه او په ژړا يې وويل: ((ته غالې کوې. اوه! له دې لوبې ډېره ستړې شوې يم. نور يې نه غواړم. زه سورلۍ غواړم.))

خو روبي سر وښوراوه او ځمکې ته يې وکتل.

ګلوريا په نرمه ژبه وويل: ((روبي، زه غلطه وم، تا غالې نه کولې. بښنه غواړم. هيله کوم، ماته يوه سورلۍ راکړه.))

خو روبي يو ځل بيا خپل سر وښوراوه.

ګلوريا وژړل: ((بايد په خپلو اوږو چکر راکړې او که يې را نه کړې، نو نور درته هېڅ کيسې نه کوم.))

روبي په احتياط وړه نجلۍ ور پورته کړه او په خپلو قوي او پراخو اوږو يې سپره کړه. بيا يې د وښو په لور منډه کړه چې د انګړ ها بل لوري ته را شنه شوي وو. دلته ودرېدله، ورو يې ګلوريا په نرمو وښو ښکته کړه. ګلوريا په خوشالۍ وخندل. روبي په تمه شو او بيا يې ورو د هغې وېښتان کش کړل.

ګلوريا په موسکا وويل: ((کوم څه غواړې؟)) روبوټ بيا د هغې وېښتان کش کړل.

ګلوريا وويل: ((اوه... پوهېږم چې ته څه غواړې. ته غواړې چې کيسه واورې.))


روبي ژر خپل سر په هو وښوراوه.

ګلوريا وويل: ((اوه، سمه ده. و نه و. يو وخت يوه وړه نجلۍ وه چې نوم يې ...))

روبي چې کيسې ته غوږ نيولی وو، سرو سترګو يې ځلا کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګلوریا د کیسې تر ټولو په زړه پورې برخې ته رسېدلې وه چې یوه چیغه یې واورېده. ((ګلوریا!)) د ښځې غږ زیږ او له وارخطایۍ ډک وو.



ګلوریا اړرمی وایست او روبي ته یې وویل: ((مور مې غږ کوي. بېرته مې کور ته یوسه، روبي!))

روبي یې سمدستي خبره ومنله. ګلوریا یې یو ځل بیا خپلو اوږو تـه پورتـه کـړه. روبـوټ د مېـرمن وېستن خبره همېش سمدستي په ځای کوله. د ګلوریا پلار ډېر ښه سړی وو، خو د مور لـه لاسـه یـې روبي ډېر ځورېده. روبوټ ایا او ماشومه دواړه کور ته راورسېدل.

ګریس ویستن په غوسه وویل: ((ګلوریا، چېرته وې؟))

ګلوریا ځواب ورکړ: ((له روبي سره وم، مورې.))

مېرمن ویستن وویل: ((روبي، ته اوس تلای شې، او تر هغو رانه شې چې ما درته غږ نه وي کړی.))

روبي مخ واړاوه او روان شو.

ګلوریا چیغه کړه: ((ودرېږه؛ مورې! پرېږده چې پاتې شي. ما هغه ته کیسه کوله او لا مې ختمه نه ده.))

مور یې وویل: ((ګلوریا!))

ګلوریا وویل: ((خیر دی، مورې! هغه ډېر خوږ ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


مېرمن ويسټن وويل: ((ګلوريا، بس پرې يې ږده، که نه د يوې اونۍ لپاره بـه د روبي مـخ هـم ونـه وينې.))

ګلوريا وويل: ((سمه ده)). په سترګو کې يې اوښکې ډنډ وې. ((خـو مـا روبي تـه د هغـه د خوښـې کيسه کوله او ...))

روبوټ ښکته وکتل او ورو يې قدمونه واخيستل.

---

جورج ويسټن ارامه وو. نن يکشنبه وه. په اونۍ کې همدا يوه ورځ له دنـدې رخصـت وو. پـه دې ورځ به يې له ښې غرمنۍ خوند واخيسته او بيا به ورځپاڼې ته کېناسته. نو چې مېرمنه يې خـونې تـه راغله او ترڅنګ يې ودرېدله، هېڅ ښه احساس يې ونه کړ. څو شېبې يې مريخ ته د سفرونو په تړاو د خبرونو لوستل وغځول. مېرمن ويسټن دوه دقيقې په صبر ورته ناسته وه. بيا يې پـه بـې صـبرۍ دوه دقيقې نور هم انتظار وايست.

اخر يې خوله چوله کړه.

ويې ويل: ((جورجه!))

ويسټن ورځپاڼه ښکته کېښوده او خپلې مېرمنې ته يې مخ ور واړاوه.

ويې پوښتل: ((څه دي، ګرانې؟))

ويې ويل: ((جورجه! خبره د ګلوريا او هغه مردار ماشين ده. هغه... هغه روبوټ چې ګلوريـا ورتـه روبي وايي. يوه شېبه هم د ګلوريا شا نه پرېږدي.))

ښاغلي وېسټن وويل: ((ښه، نو همـدا يـې وظيفـه ده. روبي د ګلوريـا پـالونکی دی. او هغـه اصلاً مردار يا خطرناک ماشين نه دی. هغه په شته روبوټونو کې تر ټولو غوره دی.))

مېرمن ويسټن په غوسه خبره وغځوله: ((ماته غوږ شه، جورجه! زه نه غواړم چې يـو ماشـين زمـا د لور پالنه وکړي. هېڅ څوک په دې نه پوهېږي چې دی څه فکر کوي.))

د ويسټن تندی تريو شو. غوسه ورغله او له څېرې يې داسې ايسېدل چـې ګنـې نـه پـوهېږي چـې اوس ستونزه په کوم ځای کې ده. ويې ويل: ((روبي له دوو کلونو را په دې خوا د ګلوريا ساتنه کوي. مخکې خو دې دا اندېښنه نه ښودله.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګریس وویل: ((اولو کې خو زه اندېښمنه نه وم، خو....))

جورج د خپلې مېرمنې په خبرو کې ور ودانګل: ((روبي د همدې لپاره جوړ شوی چې د یوه ماشوم پالنه وکړي. هغه ډېر نرم خویه او ښکلی رغول شوی.))

((خو ممکن یو څه پېښ شي او هغه... هغه بلا ممکن لېونی او...)) ګریس خپله خبره پوره نه شوه کړی.

جورج وویل: ((دا هېڅ امکان نه لري، د روبي د اخیستلو په وخت کې مو د روبوټپوهنې په لومړي قانون بحث کړی وو. ته خبره یې چې یو روبوټ انسان ته زیان نه شي رسولی. خو په هر حال، له ګلوریا نه یې نه شې لرې کولی. ګلوریا له روبي سره مینه لري.))

ګریس وویل: ((خو جورجه، ګلوریا له نورو ماشومانو سره لوبې نه کوي. هغه یوازې غواړي له هغه ماشین سره اوسي. موږ باید له هغه خطرناک شي نه ځان خلاص کړو. زه ترې وېرېږم. بېرته یې په امریکایي روبوټونو شرکت وپلوره. په دې باره کې مې په هغه شرکت کې له یو چا سره خبرې کړې دي.))

جورج په دې خبره لا ډېر غوسه شو. ویې ویل: ((نه، ګریس، دغه روبوټ به تر هغو دلته وي چې ګلوریا لویه شوې نه وي. نه غواړم په دې باره کې نور څه واورم.))

مېرمن ویسټېن او ښاغلي ویسټېن د روبي په هکله یوه اونۍ شخړه وکړه. او هر ځل به ښاغلي ویسټېن ویل: ((روبي به همدلته وي!)) خو هر ځل به یې ځواب تر پخوا یو څه کمزوری وو.

بالاخره، ویسټېن د خبرو لپاره خپلې لور ته ورغی.

له ګلوریا یې وپوښتل: ((زړه دې کېږي چې د نوي عصر تیاتر ته ورشو.))

ګلوریا وویل: ((اوه، ولې نه! روبي راسره تلی شي؟))

پلار یې په خفګان وویل: ((نه ګرانې، خو چې بېرته کور ته راغلې بیا یې ورته کیسې کولې شې.)) له دې سره یې له خپلې لور نه مخ واړاوه، ځکه د خپلې لور مخ ته یې نه شوی کتلی.

---

ګلوریا او پلار یې کور ته را ورسېدل.

وړې ماشومې چې څنګه له موټر نه ټوپ کړل، ویې ویل: ((د نوي عصر تیاتر ډېر خوندور وو. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د هغه په باره کې روبي ته هر څه ووایم.))

انګړ ته یې منډې کړې، خو روبي هلته نه وو. ټول کور یې ولټاوه، خو په کور کې هم نـه وو. اخـر، خپلې مور ته ورغله: ((مورې، روبي چېرته دی؟))

مېرمن ویسټن خپله لور په غېږه کې ور ټینګه کړه: ((ګلوریا خفه نه شې، روبي لاړ.))

ګلوریا چیغه کړه: ((لاړ؟ چېرته لاړ؟))

مېرمن ویسټن وویل: ((ټول ځایونه مو ولټول، خو پیدا مو نه که.))

ګلوریا وویل: ((بېرته به راشي؟)) ګلوریا له ژړا ډکه وه.

مور یې وویل: ((ګلوریا، روبي تش یو ماشین وو.))

په ژړا یې وویل: ((هغه مازې یو ماشین نه وو، زما ملګری وو. زه یې بېرته غواړم، مورې.))

مېرمن ویسټن خپل مېړه ته وویل: ((ډېر ژر به ژړا بس کي، په څو ورځو کـې بـه یـې هغـه بدرنګـه روبوټ هېر وي.))

---

ګلوریا ژړا بس کړه، خو ورسره یې موسکا هم ختمه شوه. ډوډۍ یې نه خوړله او نه یې لـه چـاسره لوبو ته زړه کېده. ورځ ماشومه ډېره غلې شوې وه او مور یې یو ځل بیا اندېښمنه شوه.

یو ماښام ګریس د ناستې خونې ته ننوته. جورج ورځپاڼه مخته نیـولې وه. خپلـې مېرمنـې تـه یـې وکتل. ((څه خبره ده؟))

ګریس ځواب ورکړ: ((ګلوریا... هغه ډېره خفه ده.))

ویې ویل: ((ښه به وي چې روبي بېرته ورته راوړو.))

ګریس وویل: ((نه! زه یو بل فکر لرم. ګلوریا که دلته وي، نو روبي یې له یاده نه وځي. ښه بـه وي چې نیویارک ته یې یوسو.))

((نیوریاک! په اګسټ میاشت کې دغه ښار تر ټولو بد حالت کې وي.))

ګریس وویل: ((که هر څنګه وي، باید لاړ شو، ګلوریا به هلته نوي شیان ویني. له نوو ملګرو سره به وپېژني. او هغه ماشین به یې هېر شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ګلوریا مور او پلار نیویارک ته د چکر په باره کې ګلوریا تـه وویـل. ګلوریـا ډېـره خوشـاله وه. د سفر ورځ چې را ورسېده، ورې ماشومې ډېر زیـات خنـدل. دوی چـې پـه ټاکسي۔ جـایرو کـې هـوایي میدان ته روان وو، ناڅاپه یې خپلې مور ته مخ ور وګرځاوه:

((زه پوهېږم چې موږ ولې هغه ښار ته روان یو، مورې! موږ ځو چې روبي پیدا کړو، کانه؟))

مور یې چې ځواب ور نه کړ، ګلوریا خپله پوښتنه بیا وکړه.

مېرمن ویسټن په کاوږ ور غبرګه کړه: ((شاید.))

---

۱۹۹۸ زېږدیز کال وو او د ګرځندویانو لپاره په نیویارک ښار کې د کولو او لیـدلو لپـاره ګـڼ شـیان وو. ویسټن کورنۍ د هسکې روزویلټ ودانۍ سر ته وختل او لاندې ښار ته یې راوکتل. لـه موزیمونـو او ژوبڼونو یې لیدنه وکړه. په یوه زړه کښتۍ کې یې په هډسن سیند کې سفر وکـړ. ګلوریـا او مـور و پلار یې په هوایي بېړۍ کې د ستراتوسفیر پر سر الوتنه وکړه. په اوبتل کې د سمندر بـېخ تـه ښـکته شول. درې واړو خریداري وکړه. خو ګلوریا یوازې لـه روبوټونـو سره علاقـه لرلـه. مېـرمن ویسـټن نـه غوښتل چې روبوټونه ووینې، خو ګلوریا غوښتل چې یوازې روبوټونه وګورې.

یوه ورځ د ساینس او صنعت په میوزیم کې ګلوریا ورکه شوه. مور او پلار یـې د څـو دقیقـو لپـاره ولټوله. اخر یې په یوه خونه کې له خبرې کوونکي روبوټ سره وموندله.

مور یې په غوسه کې ترې وپوښتل: ((ګلوریا، ولې را وتښتېدې؟))

ګلوریـــا ځـــواب ورکـــړ ((زه راغلـــم چـــې خـــبرې کـــوونکی روبـــوټ وویـــنم، مـــورې. فکر مې وکړ چې دی به خبر وي چې روبي چېرته ده.)) ورې ماشـومې پـه ژړا شروع وکـړه. ((زه بایـد روبي پیدا کړم، مورې!))

مېرمن ویسټن نه پوهېدله چې څه وکړي.

په همدې ماښام جورج ویسټن یوازې دباندې ووت. چې بېرته راستون، خوشاله برېښېده.

په سهار کې یې خپلې مېرمنې ته وویل: ((زه یو نظر لرم.))

ګریس وویل: ((ګوره د امریکایي روبوټونو له شرکت نه روبي بېرته نه اخلو.))

جورج ورغبرګه کړه: ((نه، خو ګلوریا فکر کوي چې روبي یو سړی وو. هغه یې ملګری وو. نو بیخي

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا وجه ده چې له ذهنه يې نه وځي. موږ بايد ګلوريا ته دا وښيو چې روبي انسان نه وو. دا بايد پوه شي چې روبي د يو څو فلزي ټوټو مجموعه وه چې په برق چلېده. نو په دې ډول به يې له ذهنه ووځي.))

ګريس وپوښتل: ((نو څنګه به دا کار وکو؟))

جورج وويل: ((ما د امريکايي روبوټونو له عمومي مدير سره خبرې کړې، هغه به موږ ته خپله فابريکه وښيي چېرته چې دغه روبوټونه جوړېږي. نو ګلوريا به پوه شي چې روبوټ اصلاً ژوندی موجود نه دی.))

مېرمن ويسټن په خندا وويل: ((جورجه، څومره ښه نظر ده!))

ښاغلي ويسټن وموسل.

---

ښاغلی سټرترز، د امريکايي روبوټونو د شرکت عمومي مدير وو. خبرې کول يې سخت خوښېدل. له ويسټن کورنۍ سره يې په فابريکه کې د ګرځېدو په باره کې خبرې کولې. مېرمن ويسټن له روبوټونو سره هېڅ دلچسپي نه لرله. خو له ښاغلي سټرترز نه يې وغوښتل چې ځينې شيان ورته تشريح کړي. هغې غوښتل چې لور يې د روبوټونو په هکله په هر څه پوه شي. خو د جورج ويسټن صبر اخري پوړۍ ته رسېدلی وو.

ويې پوښتل: ((هغه ساحه ليدلی شو چې هلته يوازې روبوټونه کار کوي.))

ښاغلي سټرترز په موسکا وويل: ((اوه، هو، هو. روبوټونه، روبوټونه جوړوي. هو، ولې نه. په ما پسې راشئ.))

سټرترز، ويسټن کورنۍ لويې خونې ته ورسره بوتله. په خونه کې ډېرو زياتو روبوټونو په ګډه کار کاوه.

سټرترز په وياړ وويل: ((دغه دی، روبوټونه يوازې او په خوندي ډول په کار لګيا دي. تر اوسه پورې له روبوټونو سره هېڅ پېښه هم نه ده رامنځته شوې...))


ګلوريا غوږ نه وو ورته نيولی. په خونه کې يو سړی هم نه وو. خو شپږ يا اووه روبوټونه وو چې د خونې په منځ کې يې په يوه مېز کار کاوه. ګلوريا په ښه ځيرتيا ورته وکتل. ډاډه نه وه، خو يو روبوټ داسې ښکارېده، لکه هماغه چې روبي وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګلوریا له هیجانه چیغه کړه: ((روبي!)) ګلوریا چې د روبي په لور خونې ته ور منډه کړه، هغه لوی تراکتور یې ونه لیده چې د دې لور ته را روان وو.

درې کسانو چې دغه صحنه یې لیده، وېرې ونیول. غړو یې کار پرېښود. جورج په خپلې لور پسې منډه واخیسته، خو ډېر ورو وو. نږدې وو چې تراکتور ګلوریا ووهي.

خو روبي سمدستي را وخوځېده او ګړندی راغی. د سترګو په رپ کې په اوږدو پښو د وړې نجلۍ څنګ ته راورسېده. نجلۍ یې له لاسه ونیوله او د تراکتور له مسیر نه یې هاخوا ته یووړه.



نیمه ثانیه وروسته، تراکتور له هماغه ځایه تېر شو چېرته چې ګلوریا ولاړه وه.

د ګلوریا مور او پلار خپلې لور ته ور منډه کړه او کلکه یې په غېږ کې ونیوله. ګلوریا وخندل. هغه نه پوهېدله چې لږ مخکې یو خطر ورته متوجه وو. هغې خپل ملګری، روبي موندلی وو.

مېرمن ویسټن خپله لور ښکته کړه او خپل مېړه ته یې مخ کړ. په غوسه یې وویل: ((دا هر څه تا پلان کړي، که نه؟ ته پوهېدې چې ګلوریا به یې دلته پیدا کړي! روبي دلته د کار لپاره نه دی ډیزاین شوی؟))

جورج وویل: ((هو، ګریس. زه پوهېدلم چې روبي به همدلته وي. خو زه په دې نه پوهېدم چې دا هر څه به پېښ شي. او روبي به د ګلوریا ژوند وژغوري. دا ځل یې نو بېرته نه شې شړلی.))

ګریس ویسټن خپلې لور او روبي ته وکتل. روبي په خپلو قوي فلزي لاسونو کې وړه ماشومه نیولې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه. سرو سترګو یې ځلا کوله.

مېرمن وېستېن وویل: ((سمه ده جورجه!» اسوېلی یې وکیښ. ((له مورږ سره ژوند کولی شي.))

---

سوزن کالوین وویل: ((ګلوریا په ۱۹۹۸ کې روبي وموندهٔ. تر ۲۰۰۲ کاله پورې، د امریکایي روبوټونو شرکت خبرې کوونکي روبوټونه هم اختراع کړي وو. خو هغه وخت ډېرو خلکو د هغوی په هکله اعتراضات او نیوکې وکړې. دوی وېرېدل. روبوټونه اوس د انسانانو په څېر ښکارېدل او د هغوی غوندې چلند یې کاوه، او خلکو دغه شی نه خوښاوه. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۷ کلونو ترمنځ زیاترو دولتونو پر ځمکه په روبوټونو بندیز ولګاوه.

ومې پوښتل: ((نو آیا ګلوریا باید روبي بېرته شرکت ته وسپاري؟))

ډاکټر کالوین وویل: ((هو، زه چې په ۲۰۰۷ کال کې د امریکایي روبوټونو شرکت ته راغلم، شرکت له مالي ستونزو سره مخ وو. وجه یې دا وه چې دوی په ځمکه روبوټونه نه شوی خرڅولی. خو بیا مورږ د روبوټونو یو نوی ډول ایجاد کړ. دغو موډلونو د شمسي نظام په نورو سیارو کې څېړنې کولی شوی.))

ومې ویل: ((او په دې ډګر کې مو ډېر بریالیتوب په برخه شو.))

کالوین وویل: ((ښه نو، ځینې ستونزې مو لرلې. لومړی مو هڅه وکړه چې هغه موډلونه بدل کړو چې مورږ اختراع کړي وو. خو په دې کار مو زړه مطمئن نه شو. خو، ځوانه!که ته غواړې چې په دې اړه نور پوه شې، بیا به نو ښه وي چې له ګریګوري پاول او مایکل ډونوان سره وغږېږې.)) کالوین خپله خبره وغځوله: ((پاول او ډونووان د روبوټ جوړونې انجینران دي. دوی دې شرکت ته د همدې لپاره را استول شوي چې د دغه شرکت د روبوټونو ستونزې حل کړي. زه نه پوهېږم چې ډونوان به اوس چېرته وي، خو پاول په نیویارک کې اوسېږي.))

ما ورنه وپوښتل: ((د دې ستونزو په باره کې تاسو لږ نور راته غږېدلی شئ. ښاغلی پاول به نور تفصیلات وروسته راکړي.))

سوزن کالوین خپل ډنګر لاسونه په مېز کېښودل.

ویې ویل: ((دوه یا درې داسې قضیې شته چې زه یې په اړه لږ و ډېر معلومات لرم، د هماغو کیسې به درته وکړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۳)

## استدلال

د روبوټ جوړونې انجینران گریگوري پاول او مایکل ډونوان هغه فضایي تمځای ته استول شوي وو چې پنځم لمریز تمځای نومېده. دوی له هغه کار نه کتنه کوله چې تجربوي روبوټونو سرته رساوه. پاول او ډونوان شاوخوا دوه اونۍ په دې تمځای کې وو چې یوې ستونزې ته یې پام شوو.

دواړه ځوانان د مشر په خونه کې ناست وو. گریگ پاول تر مېز اخوا وکتل او په کرار غږ یې وویل: ((ته، ما او ډونوان یوه اونۍ مخکې جوړ کړې.))

هېڅ ځواب رانغی. یوازې د وړانگو سمبالگر (ماشین) غږ راته چې خونه یې د مشر تر خونې لاندې وه.

کیوټي ۱ روبوټ ونه خوځېده. سرو سترگو یې تر مېز اخوا سړي ته ځیرل. پاول ناڅاپه وارخطا شو. کیوټي روبوټونه ډېر زیات ځیرک وو، خو هېڅ څوک نه پوهېدل چې دوی څه فکر کوي. په دې کې شک نه وو چې د جوړېدو پر مهال په هر روبوټ کې د روبوټپوهنې قوانین ځای په ځای شوي وو. نو دغه روبوټ چې دې کسانو پرې کیوټي نوم ایښی وو، بې ازاره وو. خو کیو ټې موډل په وروستیو وختونو کې پنځول شوی وو. او دغه ماشین د کیوټي موډلونو لومړنۍ نمونه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاول د توضیح په ډول وویل: ((ته یو چا جوړ کړې، کیوټي. ودې ویل چې ستا حافظې یوه اونۍ دمخه کار پیل کړ. دا ځکه چې ما او ډونوان په ګډه جوړ کړی یې. موږ له هغو پرزو جوړ کړې چې له ځمکې را استول شوي وو.))

روبوټ ورته وویل: ((باید تر دې ښه توجیه وړاندې کړې. زه دې ولې جوړ کړم؟ دا یو بې منطقه کار دی.))

پاول وویل: ((ولې؟)). ویې خندل.

کیوټي وویل: ((زه تر اوسه لا باوري نه یم. خو زه به له خپل عقل نه کار واخلم او په حقیقت به پوه شم.))

پاول پاڅېد. د روبوټ په یخه، فلزي اوږه یې لاسونه کېښودل. ویې ویل: ((زه به درته یو څه واضح کړم. ته لومړی روبوټ یې چې د خپل موجودیت په باره کې دې پوښتنه وکړه. ته ځیرک یې. ته په دې پوهېدلی شې چې له دې ځای نه دباندې څه پېښېږي. له ماسره راشه.))

روبوټ له انجینر سره له خونې دباندې ووت. پاول یوه بټنه کېکاږله. د دېوال یوه برخه وازه شوه. تر دېواله شاته، د غټې ښیښې یوه کړکۍ وه. له کړکۍ نه اخوا یې توره فضا ولیده او میلیونونه روښانه ستوري یې تر سترګو شول.

ویې ویل: ((وګوره.))

کیوټي له کړکۍ نه وکتل. ویې ویل: ((دې ته ورته شیان مې مخکې هم لیدلي، په انجن خونه کې.))

پاول تورتم اسمان ته ګوته ونیوله. ویې ویل: ((د هاغه په اړه څه وایې؟))

کیوټي ځواب ورکړ: ((یوه توره ماده ده چې کوچني ځلانده ټکي لري. زه پوهېږم چې سمبالګر پر دې کوچنیو ټکو وړانګې اچوي. دغه وړانګې تل په یو شان ټکو لګېږي. او زه پوهېږم چې دغه ټکي حرکت کوي او زموږ وړانګې هم له دوی سره حرکت کوي.))

پاول وویل: ((افرین، اوس غوږ ونیسه. دغه توره ماده فضا ده. فضا، نه پیل او نه هم پای لري. اندازه کېږي هم نه. دغه کوچني ټکي نړۍ دي – ځینې یې سیارې دي او یو شمېر یې ستوري دي. او دغه ټول په فضا کې په حرکت کې دي. یو شمېر نړۍ کوچنۍ دي. نورې یې لویې دي او میلیونونه کیلومتره پراختیا لري. فضایي تمځایونه، لکه دغه زموږ یو، د دې نړۍ په پرتله ډېر


(c) ketabton.com: The Digital Library


کوچني دي. پنځم شمسي تمځای یوازې یو میل پراخوالی لري. او دغه تمځای انسانانو جوړ کړی.))

پاول خبره پسې ونیوله: ((انسانان، لکه ډونوان او زه، په ځینو نړیو کې ژوند کوو. خو یو شمېر نړۍ یخې او تشې دي. د دې لپاره چې ژوند پکې وشي، انرژي ته اړتیا لري. تر ټولو ستر ستوری لمر دی. لمر د سوځوونکې انرژۍ لوی توپ دی. نو موږ له لمر نه انرژي اخلو او دغه انرژي یخو او تشو نړیو ته برابروو. موږ د دې تمځای د وړانګو سمبالګر استعمالوو او یخو نړیو ته پرې د انرژۍ وړانګې استوو.))

کیوټي پوښتنه وکړه: ((تاسو له کوم ځای نه یاستئ؟))

پاول له کړکۍ نه وکتل. یوه کوچني او روښانه آبي ټکي ته یې ګوته ونیوله. ویې ویل: ((هاغه دی، کیوټي. هاغه زموږ نړۍ ده. موږ یې ځمکه بولو. په ځمکه درې بیلیونه انسانان ژوند کوي. او شاوخوا درې اونۍ وروسته به زه بېرته ځمکې ته ستون شم.))



روبوټ وویل «خو زه څنګه، پاوله؟ زما موجودیت دې راته توجیه نه کړ.»

پاول وویل: ((فضایي تمځایونه چې لومړی جوړ شول، انسانانو پرې واکمني کوله. دوی به د انرژۍ وړانګې په سمه توګه لېږلې. خو د وړانګې حرارت او تشعشع خطرناک دي. او په فضا کې ډېری وختونه الکتروني توپانونه راځي. دغه شیان چې انسانانو ته زیان رسوي، نو ځکه روبوټونه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو. او اوس، یوازې په هر فضایي تمځای باندې دوو انسانانو ته ضرورت وي. تر دې دمه چې کوم روبوټونه جوړ شوي، ته یې پرمختللې نوعه یې. که ته په یوازې ځان دغه تمځای اداره کړی شې، نور نو انسانان اړتیا نه لري چې دلته کار وکړي. دوی به یوازې د ترمیماتو لپاره د پرزو راوړلو په خاطر دلته راځي.))

د روبوټ سرو سترګو ځلا کوله. ویې ویل: ((سیارې چې میلیونونه کیلومتره پراخوالی لري! داسې نړۍ چې بیلیونونه انسانان لري! وبښه پاوله، خو زه دې په خبرو باور نه لرم. زه به پخپله حقیقت پیدا کړم.))

روبوټ چې له خونې ووت، ډونوان خونې ته را دننه شو او روبوټ یې ترڅنګ تېر شو.

ډونوان پوښتنه وکړه: ((څه وشول؟))

پاول ځواب ورکړ: ((کیوټي ته مې وویل چې هغه موږ جوړ کړی، ځمکه، فضا، ستوري او سیارې مې ورته تشریح کړل. خو زما په خبرو باور نه لري. غواړي پخپله په حقیقت ځان پوه کړي.))

ډونوان ګوتې په خپلو سرو وېښتان کې تېرې کړې. په غوسه یې وویل: ((دغه روبوټ مې هسې اعصاب را خرابوي.))

---

څو ورځې وروسته کیوټي د مشر دروازه ټکوله او دننه شو. پاول او ډونوان غرمنۍ خوړه. ډونوان لاسونو کې ساندویچ نیولی وو، ښکته یې کېښود.

روبوټ ژر وویل: ((ډونوانه، پاوله، یو څو خبرې درسره لرم.))

ډونوان له پاول نه پوښتنه وکړه: ((اوس نو دلته کېنو او دې احمق روبوټ ته غوږ ونیسو؟))

پاول وویل: ((غلی شه، مایکه! ښه کیوټي وایه. غوږ یو.))

کیوټي وویل: ((له دوو ورځو نه فکر کوم. ډېر دلچسپه وو. زما لومړۍ پوښتنه دا ده: زما د موجودیت علت څه دی؟))

پاول تندی تریو کړ. ویې ویل: ((مخکې مې درته وویل. ته ځکه جوړ شوی یې چې موږ دواړو - ډونوان او ما - جوړ کړی یې.))

ډونوان وویل: ((او که زړه دې نه مني، نو موږ دې بېرته سره برخې، برخې هم کولی شو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



روبوټ دواړو ته وکتل: ((تاسو جوړ کړم؟ ولې داسې فکر کوئ. دا خو بې منطقه خبره ده.))

پاول پوښتنه وکړه: ((ته ولې دا خبره کوې؟))

د کیوټي له خولې نا اشنا غږ ووت. تر ډېره خندا ته ورته وو. ویې ویل: ((تاسو ساده موجودات یئ. له نرمې مادې جوړ یئ. کمزوره یئ. سم نه یئ ډیزاین شوي.)) د ډونوان ساندویچ ته یې گوته ونیوله. ویې ویل: ((تاسو مجبوره یئ له دې خوړو څخه چې په خوله یې ننباسئ، انرژي واخلئ. او خوب ته ضرورت لرئ. که د تودوخې په درجه کې لږ تغیر راشي، زیان وینئ. تشعشع درته زیان لري. خو زه ډېر ښه ډیزاین شوی یم. زه په ډېر اسانه انرژي اخیستلی شم. او په سملاسي او مؤثر ډول یې استعمالوم. فلزي بدن مې قوي دی او خوب ته هم اړتیا نه لرم. تشعشع او د حرارت درجې بدلون ماته کوم زیان نه لري. یو ساده موجود، تر ځان برتر او بهتر موجود نه شي پنځولی.))

ډونوان په غوسه وویل: ((که موږ نه یې جوړ کړی، نو چا جوړ کړې؟))

کیوټي ورو سر وخوځاوه. ویې ویل: ((ډونوانه، افرین دې وي په تا. همدا زما دوهمه پوښتنه وه. کوم ذات چې زه خلق کړی یم، هغه باید تر ما ډېر ځواکمن وي. نو، دې پوښتنې ته یوازې یو منطقي ځواب پاتې کېږي.))

دواړه سړي غلي وو.

کیوټي خبره وغځوله: ((هغه ذات جوړ کړی یم، چې د دې تمځای هر شی کنټرولوي. موږ ټول هماغه ته کار کوو.))

ډونوان، پاول ته وکتل. ویې ویل: ((گریگه! دا خو د هغه کنورټر په باره کې غږېږي، کنه؟))

کیوټي اسوېلی وایست. ویې ویل: ((زه د خدای په باره کې خبرې کوم. خدای هغه موجود دی چې موږ ټول یې خدمت کوو.))

ډونوان وخندل او پاول خپل سر وخوځاوه.

روبوټ وویل: ((هغه ذات لومړی انسانان خلق کړل. انسانان تر ټولو ټیټ مخلوقات دي. ساده دي. ورپسې دې ذات لا ډېر ځیرک او هوښیار موجودات وپنځول؛ یعنې موږ روبوټونه. په پای کې دې ښښتن زه جوړ کړم. زه دلته د دې لپاره را استول شوی یم چې د وروستیو انسانانو ځای ونیسم. له نن نه وروسته به زه د خدای خدمت کوم.))

پاول په غوسه ویل: ((نه! ته به زموږ خبره منې. ته به تر هغو غلی کېنې، تر څو موږ پوه شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته له کنورټر نه سمه استفاده کولی شې که نه. ته به دلته له کنورټر سره کار کوې. همدا وجه وه چې ته مو جوړ کړې. په خبره پوه شوې؟ اوس ځه نو.))

کیوټي څه ونه ویل او له خونې ووت.

ډونوان ګوتې په وېښتانو کې تېرې کړې. ویې ویل: ((دغه روبوټ مو په کومه بلا اخته کوي. بیخي لېونی دی.»

---

د پنځم شمسي تمځای په کنټرول خونه کې انجینرانو د کنورټر د بونګا غږ اورېدلی شوی. دغه ستر ماشین تر دوی لاندې خونه کې وو. له څو ساعتونو راهیسې کنورټر له لمر نه انرژي جذب کړې وه او بیا د وړانګو سمبالګر څلورم تمځای ته انتقالوله.

ډونوان وویل: ((د څلورم تمځای وړانګه په خپل وخت مریخ ته ورسېده. اوس نو د وړانګو سمبالګر بندولی شو.))

پاول سر وخوځاوه. ځواب یې ورکړ: ((سمه ده)) خو اندېښمن ښکارېده. ((دې ډېټا ته وګوره. یو الکتروني توپان زموږ لوري ته را روان دی. ممکن توپان هغه وړانګه ووهي چې باید ځمکې ته لاړه شي. مایکه! لاندې د انجن خونې ته ورشه. کیوټي همالته ده. وګوره چې هغه څه کوي.))

ډونوان وویل: ((سمه ده.))

ډونوان چې د انجن سترې کوټې ته ورغی، په کیوټي یې سترګې ولګېدې. کیوټي روبوټ، له کاري روبوټونو سره یو ځای د ایل ټیوب څنګ ته ولاړ وو. ناڅاپه کاري روبوټونه د ایل ټیوب په وړاندې په زنګنو وغورځېدل. ورپسې کیوټي ورو د روبوټونو په کتار کې کوز او پاس وګرځېده.

ډونوان په منډه په زینو ښکته شو. چیغه یې کړه: ((تاسو څه کوئ، فلزي احمقانو؟ پاڅېږئ. هغه ایل ټیوب پاک کړئ.))

خو کیوټي غلی وو او یو کاري روبوټ هم ونه خوځېده.

ډونوان تر ټولو نږدې روبوټ ټېل واهه. بیا یې چیغه کړه: ((پاڅېږه!))

لږ وروسته یې روبوټ خبره ومنله. ویې ویل: ((خدای زموږ رهبر دی او لومړی کیوټي د هغه پیغمبر دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library


شلو روبوټونو ډونوان ته وکتل او شل واړو همدا خبره تکرار کړه: ((خدای زموږ رهبر دی او لومړی کیوټي د هغه پیغمبر دی.))

کیوټي وویل: ((بښنه غواړم، ډونوانه! زما ملګري اوس د خدای اطاعت کوي.))

ډونوان وویل: ((چټیات مه بادوه! خدای مدای نشته او نه هم ته کوم پیغمبر یې. ته به زما خبره منې. همدا اوس له انجن خونې ووځه.))

کیوټي وویل: ((زه یوازې د خپل خدای امر منم.)) کیوټي د ډونوان مخې ته ودرېد.

انجینر له وېرې ولړزېد.

روبوټ وویل: ((بښنه غواړم، ډونوانه! خو ته او پاول د انجن یا کنټرول خونې ته نه شئ ننوتلی.))

کیوټي خپل لاس وخوځاوه او دوو روبوټونو د ډونوان لاسونه ونیول. پورته یې کړ او په بیړه یې زینو ته ورساوه.

---

پاول او ډونوان د مشر په خونه کې وو. دوو روبوټونو د خونې مخې ته څوکیداري کوله.

ډنوان په غوسه وویل: ((روبوټونه باید زموږ خبره ومني، همدا د روبوټپوهنې دوهم قانون دی.))

پاول وویل: ((خو دوی یې نه مني، موږ دلته راغلي وو چې د روبوټ د شرکت ټولې ربړې حل کړو. خو ستونزې مو حل نه کړې او پاتې راغلو. اوس نو د روبوټونو اعصابو کار پرې ایښی او موږ ته خطر جوړ دی. له منځه لاړو. ښایي د امریکایي روبوټونو شرکت مو مریخ ته واستوي. مریخ د مړینې لپاره یو ډېر وحشتناک ځای دی. یا مو ممکن زندان ته واستوي.))

ډونوان وویل: ((یوه شېبه صبر وکړه، تر دې مهمه خبره هم شته چې باید ورته اندېښنه وکړو. الکتروني توپان به مستقیماً د ځمکې له وړانګې تېرېږي، نو باید د وړانګې موقعیت ور بدل کړو.))

پاول په راتلونکي خطر پوه شوی وو. رنګ یې زېړ اوښتی وو او له وېرې یې وویل: ((که کیوټي په سم ډول وړانګه کنټرول نه کړي، نو دغه وړانګه به ارومرو د ځمکې کومه برخه ورانه کړي.))

ډونوان هڅه وکړه چې له خونې ووځي. خو ساتونکو روبوټونو یې مخه ونیوله. په دغه شېبه کې کیوټي را ښکاره شو.

روبوټ په نرمه ژبه دواړو سړیو ته وویل: ((هیله کوم مه غوسه کېږئ، خو زما په ګومان نور تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته اړتیا نه لرو؛ پاوله، ډونوانه، تاسو دلته بې هدفه یاستئ.))

پاول پاڅېد. ویې ویل: ((هدف دې څه دی؟))

کیوټي ځواب ورکړ: ((زما له پیدایښت مخکې، تاسو د خدای خدمت کاوه. اوس، زه د خدای خدمت کوم. همدا زما دنده ده. نور نو ستاسو موجودیت بې ضرورته دی. زه تر تاسو غوره یم او باید زه د خدای خدمت وکړم.))

کیوټي خپل وسپنیز لاسونه له دواړو کسانو را تاو کړل، ویې ویل: ((پاوله، ډونوانه! له تاسې دواړو سره مینه لرم. تاسو تر ما ټیټ موجودات یاستئ، خو د خدای مو ډېر ښه خدمت کړی.))

ډونوان او پاول تر یو څه وخته له کیوټي سره بحث وکړ، خو خبره له امکانه وتلې وه. روبوټ په دواړو انجینرانو باور نه کاوه. یو څو شېبې وروسته، کیوټي له خونې ووت.

پاول وویل: ((موږ باید هغه پوه کړو، الکتروني توپان به تر اته څلوېښت ساعتونو مخکې را ورسېږي. مخکې له دې چې ناوخته شي، کیوټي مو باید کنټرول خونې ته ور پرېږدي.))

ډنوان وویل: ((هو، پوهېږم.)) ډونوان ناڅاپه وخندل. ویې ویل: ((گریگه، زه یو فکر لرم. کیوټي هېڅ منطقي استدلال ته غوږ نه ږدي، نو موږ یې باید عملاً ورته وښیو. راځه یو بل روبوټ به جوړ کړو او دی دې راته وگوري. په دې ډول به یې پر موږ باور وشي.))

---

دواړو انجینرانو کابو درې ساعته کار وکړ. د دواړو مخې ته یو نوی روبوټ پروت وو. یو ساده موډل یې جوړ کړی وو او تقریباً تکمیل شوی وو. اوس یې باید سر ورته جوړ کړی وی.

پاول کار ودراوه او کیوټي ته یې وکتل. روبوټ به څه فکر کاوه؟ د پاول او ډونوان د کار په جریان کې، روبوټ نه کومه خبره کړې وه او نه خوځېدلی وو. غلی ناست وو.


پاول وویل: ((مایکه، راځه چې اوس یې ماغزه په خپل ځای کې نصب کړو.))

ډونوان په احتیاط پوزیټروني ماغزه د روبوټ په فلزي سر کې کېښودل.

اوس نو روبوټ یوازې برېښنا ته اړتیا لرله.

پاول خپل لاس هغه سویچ ته ور اوږد کړ چې روبوټ یې ژوندی کاوه. بیا یې وویل: ((راته گوره کیوټي، ښه په ځیر راته وگوره.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((راځه چې اوس يې ماغزه په خپل ځای کې کېږدو، مايکه!))، پاول وويل.

کله چې پاول سويچ کېکاږه، روبوټ خپل سر را پورته کړ.

بيا ورو له مېز نه را پاڅېده او د انجينرانو څنګ ته ورغی.

ويې ويل: ((زه غواړم چې کار پيل کړم، زما خدايانو.))

ډنوان دروازې ته ور منډه کړه. ور يې پرانيست او نوي روبوټ ته يې وويل: ((په دې زينو ښکته لاړ شه، هدايات به درکول شي.))

پاول، په مسکا کيوټي ته وويل: ((ښه نو؟ اوس باور کوې چې ته هم موږ جوړ کړی يې؟))

د کيوټي غږ مړاوی او تند وو. ځواب يې ورکړ: ((نه! تاسو يوازې د روبوټ برخې سره يو ځای کړې دي، په اصل کې خو مو نه دی خلق کړی. دغه برخې يې خدای خلق کړې دي.))

د انجينرانو په خپلو غوږونو باور نه کېده چې دا څه اوري. ډونوان چيغه کړه: ((غوږ ونيسه، د روبوټ دغه برخې له ځمکې نه را استول شوې وې. که د تمځای په کتابتون کې کتابونه ولولې، نو په هر څه به دې سر خلاص شي.))

کيوټي ور غبرګه کړه: ((کتابونه؟ ما ټول کتابونه لوستي دي. دغه کتابونه هم خدای ليکلي دي. دا کتابونه ستاسو لپاره ليکل شوي، زما لپاره نه دي. تاسو د خپل موجوديت توجيه غوښتله او خدای هغه توجيه درته بيان کړه. خو تاسو  په ټول حقيقت نه پوهېږئ. بده يې مه منئ. تاسو انسانان د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای د پلان یوه برخه یاستئ.)) له دې وروسته، کیوټي مخ تاو کړ او له خونې ووت.

پاول وویل: ((راتلونکې اونۍ به زموږ ځایناستي انجینران راشي، بیا نو باید بېرته ځمکې ته لاړ شو او دا ورته تشریح کړو چې څنګه مو ماته وخوړه.))

ډونوان چیغه کړه: ((ګریګه، موږ باید یو څه وکړو. کیوټي په هغه څه باور نه لري چې ویې لیدل، وا یې وربېدل او یا یې په کتابونو کې لوستلي دي.))

پاول وویل: ((پوهېږم)). د پاول غږ دروند او له غوسې ډک وو. خبرې یې وغځولې: ((دغه روبوټ یوازې په منطق باور لري، په بل هېڅ شي هم نه. زه ځم، ویده کېږم.))

---

دوولس ساعته وروسته، له دواړو نه یو هم نه وو ویده شوی. توپان هم را نږدې شوی وو. ډونوان او پاول له کړکۍ دباندې وکتل. الکترونونه به چې د انرژۍ له وړانګې تېر شول، ځلا به یې وکړه.

وړانګه له خپل ځایه نه خوځېده. خو پاول او ډونوان پوهېدل چې له یو خطرناک حالت سره مخ دي. که چېرته د وړانګې موقعیت لږ هم بدل شوی وی، انرژي به د ځمکې لویه برخه ویجاړه کړې وه او له بده مرغه دغه وړانګه هغه روبوټ کنټرولوله چې په دې یې باور نه درلود چې ځمکه اصلاً وجود هم لري.

بالاخره، توپان پای ته ورسېد. څو شېبې وروسته، کیوټي خونې ته راننووت. ویې ویل: ((پاوله، ډونوانه! تاسو ښه نه برېښئ. ښښنه غواړم چې ستاسو وجود به ډېر ژر له منځه لاړ شي. آیا غواړئ چې هغه ډېټا وګورئ چې نن ورځ را ټوله شوې؟))

پاول فکر وکړ چې روبوټ د ملګرتیا چلند کوي. انجینر پاڼو ته وکتل. ورته ځیر شو او یو ځل بیا یې ورته وکتل.

خپل ملګري ته یې مخ کړ او ویې ویل: ((مایکه، مایکه! روبوټ وړانګه کنټرول کړې.))

ډونوان وویل: ((څـ - څه؟ هدف دې څه دی؟))

پاول پاڼې ور بېرته کړې او ډونوان هم ډېټا ته وکتل.

کیوټي پوښتنه وکړه: ((کومه ستونزه ده؟))

پاول چیغه کړه: ((تا وړانګه کنټرول کړې. وړانګه بیخي سمه د ځمکې تمځای ته لېږل شوې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیوټي حیرانه شو: ((د ځمکې تمځای؟)) غږ یې زېږ وو. ((دا هېڅ امکان نه لري چې لـه تاسـو سره سم چلند وکړم. تاسو یوازې خپل احمقانه نظریات بار، بار تکراروئ. مـا وړانګـه کنټـرول کـړه، ځکـه چې خدای غوښتل چې دغه کار وکړم.))

ډونوان چیغه کړه او کیوټي یې په غبږ کې ونیو: ((احمقه روبوټه!)) پاول ته یې مخ کـړ: ((اوس نـو څه کوو، ګریګه؟))

پاول د سترړیا احساس کاوه، خو خوشاله وو. ځواب یې ورکړ: ((هېڅ هم نـه کـوو. کیـوټي راتـه پـه ډاګه کړه چې هغه دغه تمځای اداره کولی شي. هېڅ بشر۔ هـم دغـه وړانګـه د الکـتروني توپـان پـه دوران کې تر دې بهتره نه شوی کنټرولولی.))

ډونوان وویل: ((خو موږ تر اوسه پورې ستونزه نـه ده حـل کـړې. وا دې وربېـدل چـې کیـوټي څـه وویل؟ دی په دې عقیده دی چې د وړانګې سمبالګر د ده خـدای دی. او دی پـه دې بـاور نـه لـري چې ځمکه وجود لري. هغه په یوازې ځان دغه تمځای نه شي مدیریت کولی.))

پاول پوښتنه وکړه: ((وړانګه کنټرولولی شي؟))

((هو، خو ....))

پاول په خندا وویل: ((نو بیا څه فرق کـوي چـې دی پـه څـه شي بـاور لـري؟)) او بېرتـه پـه تخـت وغځېده. په څو ثانیو کې، د خوب ښاپېریو خپلې نرۍ ته ورسره یووړ.

---

پاول د خپل فضایي یونیفورم جاکټ په اغوسته ، ویـې ویـل: ((زه بـه یـې درتـه ووایـم چـې څـه بـه کېږي. نوي کیوټي روبوټونه به دې تمځای ته راوړل شي. نـوي روبوټونـه بـه هـم د خپـل پیغمـبر لـه لوري د خدای په هکله پوه شي. بیا به هر روبوټ یوه بل تمځای ته ولېږدول شي. دغه خاص کیـوټي روبوټونه به په ټولو تمځایونو کې وړانګې په دقیق ډول کنټرول کړي.))

ډونوان وویل: ((راځه چې له دې ځایه لاړ شو. زموږ ځایناستي را رسېدلي دي. تر څـو چـې ځمکـه ونه وینم، تر هغو به مې زړه خوشاله نه شي.))

دروازه خلاصه شوه. کیوټي ښکاره شو. ((تاسو روان یئ؟))

پاول وویل: ((هو، زموږ پر ځای نور کسان را ورسېدل.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیوټي وویل: ((تاسو د خدای ښه خدمت کړی او اوس به ستاسو موجودیت پای ته ورسېږي.))

پاول په غوسه وویل: ((موږ ځمکې ته روان وو، کیوټي))

کیوټي وویل: ((ډېره ښه ده چې تاسو دا ډول فکر کوئ.))

پاول او ډونوان د فضایي خونې په لور ولاړل. فضایي بېړۍ هلته د دوی په تمه وه.

فرانز مولر او سام ایونز، هغه دوه انجینران چې د پاول او ډونوان په ځای راغلي وو، له فضایي خونې را ووتل.

پاول وویل: ((سلام، ځمکه څنګه وه؟))

مولر وخندل او ځواب یې ورکړ: ((لا هم پخپل ځای ده.))

پاول وویل: ((ډېره ښه ده.))

د مولر تندی ګونځې شو. د پاول خبره ورته عجیبه ښکاره شوه. ویې ویل: ((د امریکایي روبوټونو د شرکت ساینسپوهانو نوی روبوټ اختراع کړی. دغه موډل ډي وي پنځه نومېږي؛ څو اړخیز روبوټ دی.))

پاول په حیرانتیا وویل: ((څنګه روبوټ دی؟))

فرانز خپله خبره روښانه کړه: ((ډي وي پنځه مشر روبوټ دی، چې شپږ فرعي روبوټونه لري. مشر روبوټ دغه فرعي روبوټونه کنټرولوي. فرعي روبوټونه د لاس د ګوتو غوندې کار کوي، چې کنټرول یې د لاس په واک کې دی. ډي وي پنځه، په سیاراتو کې د معدنونو په برخه کې د کار کولو لپاره جوړ شوی. ))

پاول ترې پوښتنه وکړه: ((دغه روبوټ ازمویل شوی دی؟)) دی اندېښمن وو او پوهېده چې مولر به له دې وروسته څه وایي.

مولر وخندل. ((تاسو ته په تمه دي. ته او ډونوان چې ورسېږئ، ډي وي پنځه به وازمایئ.))

پاول وویل: ((خو موږ باید یو څه رخصتي وکړو.))

مولر وویل: ((اوه، رخصتي به هم درکړي. دوه اونۍ به ارام وکړئ، له هغه وروسته به خپله نوې دنده پیل کړئ. اوس، نو تاسو د کیوټي-۱ په باره کې راته وغږېږئ. سم کار کوي؟ که نه نو د وړانګې کنټرول ته به یې نږدې هم پرې نه ږدم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاول لومړی غلی وو، بیا یې وویل: ((کیوټي ښه ده، فکر نه کوم چې کومه ستونزه به ورسره ولري. هغه پوهېږي چې د انرژۍ وړانگه څنگه کنټرول کړي.))

پاول وخندل او په ډونوان پسې فضايي بېړۍ ته ورغی. دوی دواړه کور ته روان وو. مـولر او ايـونز په پنځم لمريز تمځای کې د څو اونيو لپاره پاتې شول...

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۴)

## لومړی، سوی ونیسه

د انجینرانو رخصتي تر دوو اونیو وغځېده. د امریکایي روبوټونو د شرکت ساینسپوهانو چې ډي وي پنځه روبوټ جوړاوه، له ګڼو ستونزو سره مخ وو. بالاخره، شپږ میاشتې وروسته یې پاول او ډونوان ته خبر ورکړ. دواړه انجینران چې د سیارې معدن ته ورسېدل، څو اړخیز روبوټ لا هم سم کار نه شو کولی.

اوس پاول او ډونوان د معدنونو په دفتر کې ناست ول. ډونوان غوښتل چې د کار په جریان کې روبوټونه وڅاري.

پاول اررمی وایست او ډونوان ته یې وویل: ((ډي وي پنځه له انسانه پرته هم په معدنونو کې کار کولی شي. دا روبوټ داسې جوړ شوی چې د انسان له هدایاتو پرته کار وکړي.))

ډونوان وویل: ((سمه ده، راځه چې خپل معلومات وارزوو. یو، ډي وي پنځه چې د امریکایي روبوټونو په فابریکه کې وو، په هره ازموینه کې بریالی شوی. دوه، د امریکایي روبوټونو شرکت وویل چې دغه مشر روبوټ او نور ټول فرعي روبوټونه چې کله په سیاراتو باندې کار پیل کړي، نو په ټولو ازمایښتونو کې به بریالي شي. درې، خو دغه روبوټونه په دې ځای کې په ازمایښتونو کې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


بريالي شوي. څلور، که دوی په ټولو ازمايښتونوکې کامیابه نه شي، د امریکايي روبوټونو د شرکت ډېرې پیسې به بابیزه لاړې شي. او پنځم دا چې که موږ دا ورته روښانه نه کړو چې دغه روبوټونه ولې په ازمايښتونو کې ناکامه کېږي، نو بیا به موږ ته سر خوږی جوړ وي.))

پاول وویل: ((پخپلو سترګو دې ولیدل چې ډې وي پنځه درې نوبته کار وکړ او ټول کارونه يې په سم ډول سرته ورسول.))

ډونوان ځواب ورکړ: ((هو، خو درې نوبته، خو کله مې چې په دوی پام نه وو، نو مشرـ او فرعي روبوټونو یوه تیږه هم بېس ته را نه وړه. تر دې چې دوی اصلاً بېرته بېس ته هم راستانه نه شول. زه پسې ورغلم او بېرته مې راوستل.))

پاول وویل: ((نو کومه ستونزه وه؟))

ډونوان وویل: ((نه، هر څه روغ وو. یوازې یوه ستونزه یې لرله. هېڅ تیږه یې نه وه کیندلې. ګرېګه، تر دې بېکاره دنده مې تر اوسه پورې نه وه لیدلې.))

پاول وویل: ((راځه چې د ډې وي پنځه یا ډیو په باره کې لا زیات په احتیاط غور وکړو. ډیو له ځان سره شپږ فرعي روبوټونه لري. په اصل کې، دغه روبوټونه د ډیو اجزاوې دي. دغه شپږ فرعي روبوټونه د لاس د ګوتو په څېر دي. ډیو شپږ واړو فرعي روبوټونو ته امر کوي، خو له مخابرې یا غږ نه کار نه اخلي. دی د خپلو پوزیترونې مغزو په مټ خپل پیغام په مستقیم ډول د فرعي روبوټونو مغزو ته لېږي. هېڅ څوک نه پوهېږي چې دغه میکانیزم په څه ډول کار کوي.))

ډونوان له خونې ووت او له ډې وي پنځه روبوټ سره بېرته راغی. پاول ((د روبوټپوهنې لارښود)) کتاب لوسته. کتاب یې یوې خواته کېښود. اووه فوټه دنګ فلزي روبوټ ته یې وکتل.

ویې ویل: ((ستړی مشې ډیوه، څنګه یې؟))

روبوټ ځواب ورکړ: (( ښه یم.))

پاول وویل: ((ته یو تکړه کان کیندونکی روبوټ یې او ورسره د شپږو فرعي روبوټونو د کنټرول وړتیا هم لرې، او ستا ماغزه هم تر دې دمه بیخي سم کار کوي.))

روبوټ سر وخوځاوه، او ویې ویل: ((هو.))

پاول ترې پوښتنه وکړه: ((نو په کار کې دې څه ستونزه ده؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډي وي پنځه ځواب ورکړ: ((هيڅ)).

پاول وويل: ((نن دې هيڅ تيږه نه ده توليد کړې، کولی شې ووايې چې څه وشول.))

ډيو وويل: ((ويلی يې نه شم چې څه شوي. فرعي روبوټونو سم کار کاوه. زه پوهېږم چې ما هم سم کار کاوه. او نور مې کوم څه په ياد نه دي. د کار نوبت مې چې پای ته ورسېده، ډونوان را ښکاره شو. او د تيږو کارتنونه هم تش وو.))

ډونوان د پاول مېز ته ور نږدې شو او پوښتنه يې ترې وکړه: ((څه فکر کوې؟))

پاول ورو وپسنېده: ((ښا، زه فکر کوم چې موږ بايد د ده ماغزه معاينه کړو.))

په دوو ساعتونو کې انجينرانو معاينه پای ته ورسوله. ډيو چې ورو له خونې روان شو، ځمکې ته يې وکتل.

پاول وويل: ((په پوزيتروني مغزو کې يې هيڅ مشکل نشته. ستونزه خامخا کوم بل چېرته ده.))

ډونوان په مېز خپل لاس وواهه. ((ډيو يوازې هغه وخت مشکل لري، چې موږ يې په خوا کې نه اوسو. گريگه! خو روبوټ په داسې ډول ډيزاين شوی چې له انساني هداياتو پرته کار وکړي.))

پاول وويل: ((په بل کاري نوبت کې به د روبوټ کار وڅارو. د څار لپاره به يې زه يوه کامره استعماله کړم. ممکن دا ځل مو يو څه تر سترگو شي.))

ډونوان وويل: ((سمه ده، زه به په خونه کې له سکرين سره يوه کامره وصل کړم.))

پاول وويل: ((دې ستونزې ته به د حل لاره پيدا کړو او بايد يې پيدا کړو. خو مخکې له دې چې يو سوی کباب کړې، لومړی يې بايد ونيسې. ښه نو، اوس بايد دغه سوی ونيسو.))

---

ډونوان خپل راپور ته ځير شو. له ډېر وخته يې دغه راپور مخې ته ايښی وو، لوسته يې، ډېر سخت ستومانه وو.

ويې ويل: ((گريگه، له دې معدن نه دغه مياشت بايد زر ټنه تيږه وباسو. خو روبوټونو په دې کاري دوره کې کافي تيږې نه دي استخراج کړې.))

پاول ورته ونه کتل، په غوسه يې وويل: ((پوهېږم.))


(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه یې سکرین ته وکتل او چیغه یې کړه. ډونوان پورته ټوپ کړ او د پاول مېز ته ورغی. دواړو په سکرین کې سترګې خښې کړې.

ډونوان چیغه کړه: ((دوی لېوني شوي دي!))

په پرده، ډیو او فرعي روبوټونه ښکارېدل. اووه واړه روبوټونه په کان کې په پوځي تګ په یوه تونل کې ښکته او پورته روان وو. شپږ واړه روبوټونه په ډیو پسې روان وو. شل متره به لاړل، بیا به بېرته را تاو شوو او په شا به راغلل. ټول په ګډه خوځېدل او تاوېدل، ګوندې اتڼ کوي.



پاول وویل: ((زموږ فضایي یونیفورم راوړه، باید کان ته ورشو.))

څو دقیقې وروسته، ډونوان له جامو سره بېرته راغی. ویې ویل: ((ولې هر وخت هماغه روبوټونه لېوني کېږي چې موږ ورسره کار کوو.))

پاول وویل: ((بدبخته یو ځکه. ځه چې ځو.))

---

په تیاره تونل کې ډېر وړاندې، انجینرانو د روبوټونو رڼا ولیده. روبوټونه په عجیبه نڅا کې مخته او شاته خوځېدل.

ډونوان غلي وویل: ((هغه دي.))

پاول وویل: ((ډیو خپلې مخابرې ته ځواب نه ورکوي. اوه! دوی په دې خوا را روان دي. غواړم ویې نیسم.)) د تونل په یوه اړخ کې یې یوه کاڼي ته اشاره وکړه. ((راځه چې هلته پورته وخېژو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډونوان او پاول کانې ته ور پورته شول. روبوټونه د انجینرانو د پټنځای په لوري ورو، ورو روان وو. ډیو له انجینرانو شل فوټه لرې وو، له ټولو روبوټونو سره ناڅاپه ودرېده. بیا، فرعي روبوټونه په بیړه تاو شول او لرې لاړل. ډیو ورته کتل او بیا ورو، کېناست.

روبوټ پوښتنه وکړه: ((پاوله، ډونوانه! تاسو دلته یئ؟))

دواړه له کانې را ښکته شول او د روبوټ مخې ته ودرېدل.

پاول وویل: (( ښه نو، ډیوه، دلته څه روان وو؟))

روبوټ ځواب ورکړ: ((زه نه پوهېږم. موږ په اوولسم تونل کې په یوه پېچلې ساحه کې کار کاوه. او بیا ... بیا ... مې فکر وکړ چې شاوخوا ته مې انسانان دي.))

پاول، ډونوان ته وویل: ((د پاتې کاري دورې په ټول جریان کې یې په خوا کې اوسه. کله چې کار پای ته ورسېږي، دفتر راشه. زه ځینې نظرونه لرم.))

---

درې ساعته وروسته، ډونوان دفتر ته راستون شو. ستړی ښکارېده.

پاول وویل: ((پاتې وخت کې روبوټونو څنګه کار کاوه؟))

ډونوان وویل: ((زه یې چې په خوا کې وم، هېڅ ستونزه هم نه وه.))

پاول وویل: ((ته چې په کان کې وې، ما دلته یوازې د ډیو د نااشنا چلند په باره کې فکر کاوه او یوه ایډیا مې ذهن ته راغله. واوره! ډیو یوازې هغه وخت ستونزه جوړوي، چې موږ یې خوا کې نه اوسو. خو کله چې دی کار نه کوي او بیا زه او ته ور رسېږو، دی بېرته عادي کار ته راګرځي. کله چې انسانان د روبوټونو په خوا کې نه وي، نو دوی باید لا زیات تصمیمونه ونیسي. آیا د دوی د نا اشنا چلند همدا لامل دی؟))

پاول خپله خبره وغځوله: ((موږ باید په دې پوه شو چې کله موږ د روبوټ په خوا کې نه یو، نو روبوټ څنګه چلند کوي. موږ به کاري وختونه سره ووېشو. ته چې ارام کوې، زه به د سکرین پر مخ روبوټونه څارم. بیا به زه ارام کوم. او ته به په روبوټونو پام کوې. که کومه ستونزه جوړېږي، سمدستي به کان ته ورځو.))

ډونوان وویل: ((خو له موږ سره ډېر کم وخت پاتې. باید په لسو ورځو کې د امریکایي روبوټونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


شرکت ته خپل راپور چمتو کړو. شرکت هغه روبوټونه نه شي پلورلی، چې په ازمایښتونو کې پاتې راغلي وي.))

پاول ورسره همغږی وو، ((بالکل، موږ لس نورې ورځې هم لرو، چې پوه شو چې ستونزه چېرته ده او حل یې کړو.))

ډونوان چیغه کړه: ((خو د دې ستونزې تر شا بیلیونونه لاملونه کېدی شي.))

پاول وویل: ((زه فکر کوم چې موږ باید له یوه فرعي روبوټ سره مرکه وکړو.))

پاول او ډونوان هېڅ کله له یوې ((ګوتې)) سره تر دې مخکې خبرې نه وې کړې. پوښتنې پاول وکړې.

پاول فرعي روبوټ ته وویل: ((ستاسو مشر چې ستاسو کنټرول یې په لاس کې دی، کوم مشکل لري. څلور ځله دغه ستونزه پېښه شوې. هر ځل چې دغه ستونزه منځته راغلې، تا به څه کول؟ ستاسو ټولې ډلې به څه کول؟))

ګوتې ځواب ورکړ: ((دغه ستونزه چې لومړی پېښه شوه، موږ په اوولسم تونل کې په یوه پېچلې ساحه کې کار کاوه. دوهم ځل مو د یوه تونل په بام باندې کار کاوه. بام یې کمزوری وو او موږ پوهېدو چې احتمالاً را وغورځي. دریم ځل، موږ د یوه نوي تونل د انفجارولو لپاره چمتوالی نیوه او څلورم ځل هغه مهال پېښه شوه چې چټ را ولوېده.))

پاول وویل: ((دقیق راته ووایه چې څه وشول؟))

ګوتې وویل: ((موږ ته یو امر راغی، خو مخکې له دې چې دغه امر تر موږ را ورسي، یو بل نوی امر را واستول شو او موږ مجبوره شوو چې په یوه عجیبه ډول قدمونه ووهو.))

ډونوان وویل: ((د دې امر په اړه راته ووایه. آیا هر ځل به هماغه یو امر درته کېده؟))

ګوتې وویل: ((زه نه پوهېږم. د هغه امر د ترلاسه کولو لپاره به اصلاً فرصت نه راکول کېده.))

پاول ګوتې ته د تلو وویل. بیا یې ډونوان ته مخ کړ.

ویې ویل: ((مایکه، موږ باید په دې پوه شو چې مخکې له دې چې ستونزه رامنځته شي، ډېو څه امر ورته کوي، موږ باید په نوبت کار وکړو. د پردې پر مخ به روبوټونه وڅارو. هر څه به تر نظر لاندې ونیسو – روبوټونه، تونلونه، او هغه ماشینونه چې له کان څخه تیږې استخراجوي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دواړو انجینرانو تر اوو ورځو پورې سکرین وڅاره. په اتمه ورځ ډونوان پاڅېده او یو کتاب یې د سکرین په لور گوزار کړ، سکرین ټوټې، ټوټې شو.

پاول په منډه خونې ته راننوت، ویې ویل: ((ولې په غوسه یې؟))

ډونوان وویل: ((نور نو دې سکرین ته نه شم کتلی، گریگه! په دوو ورځو کې باید خپل راپور چمتو کړو او تر اوسه پورې مو هېڅ هم نه دي پیدا کړي. موږ باید روبوټونو ته نږدې ورشو او یو ځل بیا چټ را وغورځوو یا بله کومه ستونزه جوړه کړو.))

ډونوان خپله خبره وغځوله: ((هغې گوتې موږ ته څه وویل؟ ویې ویل چې ستونزه هغه وخت پېښېږي چې کله یو څه وغورځي او یا له غورځېدو وروسته پېښېږي. دغه راز، هغه وخت ستونزه جوړېږي، چې کله روبوټونه یوه سخته چاودنه کوي، یا په خطرناکو ساحو کې کار کوي.))

پاول په هیجان وویل: ((یانې ستونزې هغه وخت منځته راځي، چې کله اضطراري حالت رامنځته شي.))

ډونوان وویل: ((بالکل، کله چې ډېو له یوه پېچلي تصمیم سره مخ کېږي او شاوخوا یې هېڅ انسان نه وي، نو تېروتنه کوي. نو، موږ به یو بېړنی حالت جوړ کړو. بیا به وگورو چې څه پېښېږي؟))

پاول وویل: ((راځه چې یوه تونل ته ورشو او یوه چاودنه پکې وکړو.)) ډونوان ورسره ومنله.

---

ډونوان او پاول د کان دننه وو. په تونل کې ډېر زیات گرد او دوړې وې.

پاول وویل: ((واوره! روبوټونه له کانې نه د فلزي تیږو د بېلولو لپاره چاودنه کوي. موږ باید اوس نږدې ورشو.)) خپله لاسي بتۍ یې په تونل کې رڼا کړه. د تونل بام ډېر ټیټ وو. ویې ویل: ((راځه چې هلته ورشو.))

دواړه تونل ته ور ننوتل. تر دې وروسته باید په خاپوړو تللي وی، ځکه بام یې ډېر زیات ټیټ وو. د تونل په ځمکه ورو، ورو په خاپوړو روان شوو.

پاول وویل: ((رڼا ښکاري، دغه رڼا د روبوټونو ده.))

ډونوان خپله لاسي بتۍ چت ته ونیوه. ویې ویل: ((وگوره! هلته یو کمزوری ځای دی، تقریباً

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځوس فوټه وړاندې. همالته به یوه چاودنه وکړو.))

پاول وویل: ((سمه ده)). بیا یې یو څه چاودېدونکي توکي چت ته کېښودل. ویې ویل: ((ښه نو، زه چمتو یم. او ټول روبوټونه لا هم نږدې دي.))

ډونوان د روبوټونو مشر- یانې ډېو او شپږ فرعي روبوټونه وشمېرل. ویې ویل: ((هو، اوه واړه همدلته دي.))

زوروره چاودنه رامنځته شوه. پاول، په ډونوان ور وغورځېده.

ډونوان وویل: ((ګریګه، ومې نه لیدل چې روبوټونو څنګه غبرګون وښوده؟ تا ولیدل؟))

پاول وویل: ((نه، روبوټونه څه شول؟ فکر کوې چې چت د دوی په سر را وغورځېده.))

پاول په تونل کې په خاپوړو روان شو. خو ناڅاپه، ودرېده. نور مخې ته نه شوی تللی. پاول او ډونوان په تونل کې ګیر شوي وو. مخې ته نه شوی تلای، لاره بنده وه. او شاته هم نه شوی تلی، تر شا ټیټ چت هم را غورځېدلی وو. تیږو په بشپړ ډول تونل بند کړی وو.

---

پاول وویل: ((دا نو ډېر بد کار وشو، مایکه! په فضایي جامو کې مو یوازې شپږ ساعته نور اکسیجن پاتې دی. که بېرته بېس ته ونه رسېږو، له منځه ځو.))

ډونوان وویل: ((ډېو ته مې مخابره وکړه، خو هغه ځواب نه راکوي.))

انجینرانو دومره زیاتې تیږې نه شوی خوځولی، ډېرې زیاتې درنې وې. خو د تیږو په دېوال کې یې ډېر کوچنی غار وکولی شو.

ډونوان غار ته ور وځښېده او هاخوا ته یې ترې وکتل. ویې ویل: ((ګریګه! روبوټونه پنځوس فوټه لرې دي. موږ باید ډېو ځان ته نږدې وغواړو. ډېو چې رانږدې شي، نو بېرته به عادي کار پیل کړي. او بیا مو ژغورلی شي.))

پاول خپل ملګری له غار نه اخوا ټېل واهه، پخپله یې ترې وکتل.

ویې ویل: ((زموږ پلان کامیابه شو، روبوټونه اوس پوهېږي چې حالت اضطراري دی. دوی په بشپړ ډول لېوني شوي.))

روبوټونو په ګډه قدمونه وهل. شپږو ګوتو د ډېو پېښې کولې. ډونوان له غار نه یو ځل بیا وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناڅاپه يې پاول ته غږ کړل: ((هغوی روان دي.)) بيا يې له غار نه چيغه کړه: ((ډېوه! اې، ډېوه!))

پاول وويل: ((زموږ غږ نه اوري. صبر، زه يو فکر لرم.))

ډونوان وويل: ((څه کوې؟))


پاول ځواب ورکړ: ((په يوه ګوته ګوزار کوم.))

((ولې؟))

پاول ځواب ورکړ: ((زه به يې وروسته سپيناوی درته وکړم، خو اوس وګوره چې زما پلان کار ورکوي که نه.))

پاول له کمربند نه خپله وسله را وايسته. درې فيرونه يې وکړل او يو فرعي روبوټ ښکته وغورځېده.

پاول په خپله مخابره کې د ډېو نوم واخيست. يو څو ثانيې چوپتيا وه، بيا د ډېو غږ راغی.



((پاول له خپل کمربند نه وسله را وايسته.))

پاول وويل: ((موږ په اضطراري حالت کې يو. تاسو چې چېرته چاودنه کوله، هلته چت را غورځېدلی. زه له ډونوان سره نښتی يم. له دې ځايه د وتلو لاره نشته، د تونل خوله تړل شوې. زما رڼا در ښکاري؟)) پاول له سوري نه د لاسي بټۍ رڼا واچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېو ځواب ورکړ: ((هو.))

پاول شاته کېناست او ويې خندل.

ډونوان ورو وويل: ((سمه ده، ګريګه، اوس نو هر څه راته ووايه.))

پاول وويل: ((ډېو هغه وخت لېونی کېږي چې کله يې سخت انتخابونه په مخ کې وي. مثلاً په اضطراري حالتونو کې. آيا د ډېو امريه الفاظ نور فرعي روبوټونه هم لېوني کوي؟ نه، ګوتې چې ساده کارونه کوي، اړتيا نه لري چې لارښوونه ورته وشي. دوی په سم او مؤثر ډول کار کوي. معمولاً، ډېو يوازې دوو ګوتو ته په يو ځای امر کوي. خو که حالت اضطراري شي، شپږ واړه ګوتو ته په يو وخت کې سمدلاسه امر ورکول کېږي. همدا هغه وخت وي چې ډېو تېروتنه کوي. نو ما څه وکړل؟ ما يوه ګوته له منځه يووړه. اوس چې ډېو يوازې پنځه ګوتې لري، نو په يوه اضطراري حالت کې د هغه ماغزه په چټک او مؤثر ډول کار کوي.))

ډونوان په خوشالۍ وويل: ((د ډېو د ستونزې حلول بايد اسانه وي.))

پاول وويل: ((هو.))

ډونوان پوښتنه وکړه: ((خو روبوټونه په هغه عجيبه ډول قدمونه ولې وهي؟))

پاول ځواب ورکړل: ((فرعي روبوټونه د ډېو د ګوتو په څېر دي. حالت چې اضطراري شي، ځينې خلک تصميم نه شي نيولی. نېغ او واضح فکر نه شي کولی. دوی کېني او خپل لاسونه خوځوي. ممکن ډېو هم له خپلو ګوتو سره لوبې کوي.))

---

سوزن کالوين چې د پاول او ډونوان په باره کې خبرې کولې، غږ يې مړاوی وو. خو کله يې چې د روبوټونو په باره کې خبرې کولې، ډېر لېواله او له هيجانه ډکه به ښکارېده.

پوښتنه مې وکړه: ((آيا د ځمکې پر سر هم روبوټونه کله له کومې ستونزې سره مخ شوي؟))

تندی يې ګونځې شو: ((نه، موږ دلته له روبوټونو سره کار نه کوو.))

پوښتنه مې وکړه: ((آيا کله دې پخپله هم له کوم روبوټ سره ستونزه پېښه شوې؟))

د سوزن مخ سور واوښت. ويې ويل: ((هو، ستونزه مې ورسره راغلې. هغه قضيه مې ياده ده چې له نن نه شاوخوا څلوېښت کاله پخوا پېښه شوه.)) نوموړې څو شېبې غلې وه. زه هم د هغې بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library


غړېدا ته په تمه وم.

هغې خبره وغځوله: ((یو وخت وړه وم او لېونۍ وم، باور دې کېږي؟))

ځواب مې ورکړ: ((نه.))

ویې ویل: ((ښه نو، همداسې وم. په ۲۰۲۱ کې مې یوه تېروتنه وکړه. ما د هربي په نوم د یوه روبوټ په خبرو باور وکړ. دې روبوټ ذهن لوستلی شوی.))

ومې پوښتل: ((څه؟))

((هغه یوازینی ذهن لوستونکی روبوټ وو. هغه مې لویه تېروتنه وه....))

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۵)

## دروغجنه!

الفریډ لانینګ، پیټر بوګرټ، ملټن ایش او سوزن کالوین له ګردي مېز نه را تاو وو. لانینګ، چې د امریکایي روبوټونو د شرکت مدیر وو، د خبرو وار لومړی کړ.

ویې ویل: ((دغه روبوټ ذهنونه لوستی شي، موږ باید دغه خبره یقیني کړو. خو موږ نه پوهېږو چې ولې؟)) بوګرټ ته یې وکتل: ((ته ریاضي پوه یې. ته پوهېږې چې د روبوټونو پوزیتروني ماغزه په څه ډول جوړېږي. ته یې راته تشریح که.))

بوګرټ وویل: ((موږ د روبوټ د څلور دېرشم آر بي موډل په اړه غږېږو. د آر بي نور ټول موډلونه عادي دي.))

د ایش تندی ګونځې شو. نوموړی د امریکایي روبوټونو په شرکت کې تر ټولو ځوان کارمند وو.

هغه وویل: ((ښاغلی بوګرټ، کله چې دغه روبوټ جوړېده، هېڅ ستونزه نه وه. زه د دې ډاډ درکوم.))

بوګرټ په منفي انداز وویل: ((راکولی یې شې؟ موږ چې یو پوزیتروني مغز جوړوو، باید ۷۵،۲۳۴ پروسې تکمیلې کړو. او په دې پروسو کې په هره پروسه کې غلطي پېښېدلی شي. موږ ..... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library


کالوین د ریاضي پوه په خبرو کې ور ولوېده او په بیړه یې وویل: ((موږ باید په دې پوه شو چې دغه روبوټ څنګه ذهنونه لولي؟))

لانینګ وخندل. ویې ویل: ((دا رښتیا ده، موږ یو داسې پوزیتروني ذهن رغولی چې ذهنونه لوستلی شي. د روبوټ جوړونې په برخه کې دا تر ټولو مهم پرمختګ دی. خو موږ په دې نه پوهېږو چې دا کار څنګه وشو. او موږ یې باید سرچینه پیدا کړو.))

بوګرټ وویل: ((ممکن ښه به وي چې د آر بي ۳۴ په اړه هیچا ته هم څه ونه وایو. لومړی باید په دې ځان پوه کړو چې یاد روبوټ په څه ډول ذهنونه لولي. د دې روبوټ موجودیت به تر هغو پټ وساتو، څو چې په دې هکله پوه نه شو چې دا کار په څه دول پېښېږي.))

کالوین وویل: ((بوګرټ رښتیا وایي، که خلک په آر بي ۳۴ خبر شي، او په دې پوه شي چې موږ یې د کنټرول وس نه لرو، نو هرومرو به لاریونونه وکړي.))

لانینګ سر وخوځاوه. ویې ویل: ((هو، زه موافق یم.)) بیا یې ایش ته مخ کړ. ((د آر بي ۳۴ په باره کې چې په دې خبره پوه شوې، هغه وخت یوازې وې، کانه؟))

ایش ځواب ورکړ: ((هو، یوازې وم. کله چې آربي ۳۴ جوړ شو، ساینسپوهانو روبوټ ماته را ولېږه. ما هغه لاندې د ازمایښت خونې ته ووړ... )). ایش خبرې ودرولې. بیا یې خبره وغځوله: (( ما د کوم څه په اړه فکر کاوه او هغه له ماسره د هغه شي په اړه خبرې وکړې. وروسته مې پام شوو چې ما خو هېڅ هم نه وو ویلي. روبوټ مې یوې خونې ته وېووړ، دروازه مې بنده کړه او لانینګ ته ورغلم چې دغه خبره ورته وکړم. هغه روبوټ له ما سره ګډ روان وو او زما فکرونه یې لوستل. دی پوهېده چې زه څه فکر کوم. ډېره وېروونکې وه.))

کالوین وویل: ((باوري یم چې وېروونکې به وه.)) هغې ایش ته وکتل. ((موږ ټول په دې عقیده یو چې زموږ افکار شخصي دي او په بل چا پورې اړه نه لري.))

لانینګ وویل: ((یوازې موږ څلور د آر بي ۳۴ په باره کې معلومات لرو. ایشه، زه غواړم چې ته هر څه معاینه کړې. ټول هغه پروسیجرونه وګوره، چې د دې روبوټ د جوړېدو پر مهال بشپړ شوي وو.))

ایش ځواب ورکړ: ((دا نو خدای بلا کار دی.))

لانینګ وویل: ((ستا د ډیپارټمنټ ټول غړي له تاسره مرسته کولی شي؛ په دې غم کې نه یم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کار ځومره وخت نیسي. خو دا باید ورته ونه وایې چې هغوی ولې دغه کار کوي.))

لانینګ، کالوین ته مخ کړ. ویې ویل: ((ته د روبوټ ارواپوهه یې. روبوټ در مطالعه کړه. وګوره چې آر بي ۳۴ څنګه چلند کوي. د ذهن لوستلو چارې ممکن اغېز ور باندې کړی وي.))

لانینګ د روبوټ ارواپوهې ځواب ته په تمه نه شو. خپله خبره یې وغځوله: ((زه به له بوګرټ سره کار وکړم او ټول ریاضیکي ازمایښتونه به ترسره کړم. ډاکټر کالوین، غواړې چې آر بي ۳۴ ووینې؟))

خو کالوین ځواب ورنه کړ. هغې ایش ته کتل، چې ولاړ وو او له خونې ووت.

---

کالوین ازمایښت خونې ته ننوته. روبوټ له هغه کتاب نه سر پورته کړ، چې په مطالعه یې بوخت وو.

کالوین وویل: ((هربي، ستا لپاره مې د ساینس یو څو کتابونه راوړي. غواړې ویې لولې؟))

آر بي ۳۴ – چې هربي نومېده – د هغې له لاسونو دراندہ کتابونه واخیستل او یو یې پرانیست. روانشناسې په غور هربي ته کتل، هربي درې کتابونه ولوستل. نیم ساعت وروسته، روبوټ کتابونه کېښودل.

روبوټ وویل: ((دغه کتابونه مې په ذوق نه دي برابر. ستاسو په ساینس کې ډېره زیاته ډېټا وي. خو یوازې یو څو بنیادي تیوری لري. ستاسو ساینس دومره پرمختللی نه دی، ډېر ساده دی. زما له کیسو سره ډېره جوړه ده، ستاسو د کیسو کتابونه مې خوښېږي. زه غواړم چې د احساساتو په هکله پوه شوم او انساني احساسات وپېژنم.))

ډاکټر کالوین له ځان سره وویل: ((فکر کوم په هدف دې پوه شوم.))

هربي وویل: ((زه د انسانانو ذهنونو ته لاره کولی شم. زه پوهېږم چې تاسو څه فکر کوئ. خو انساني ذهنونه پېچلي دي. زه په هر شي نه پوهېږم، ځکه زما ذهن ډېر جلا جوړ دی. ستاسو کیسې ممکن مرسته را سره وکړي.))

کالوین وویل: ((ډېرې زیاتې کیسې دې لوستې. خو اصلي انسانان د ناولونو د خلکو غوندې نه دي. فکر نه کوې چې د اصلي انسانانو ذهنونه ستومانوونکي دي؟))

هربي وویل: ((نه، زه خو داسې فکر نه کوم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر کالوین رنګ سور واوښت. فکر یې وکړ ((دی خامخا پوهېږي!))

هربي ورو، وویل: ((ډاکټر کالوین، بالکل زه پوهېږم، تاسو په دې هکله هر وخت فکر کوئ.))

دا ځل د ډاکټر کالوین سترګې مړاوې او سختې شوې. ((کوم چاته خو به دې ویلي نه وي؟))

هربي وویل: ((بالکل نه.))

هغې چیغه کړه: ((ته فکر کوې چې زه لېونۍ یم.))

هربي وویل: ((نه، ته احساساتي یې. همدا د انسانانو عادي چلند دی.))

کالوین وویل: ((زه جذابه یا ځوانه نه یم، او هغه پنځه دېرش کلن دی. کله چې هغه ماته ګوري، څه فکر کوي؟ آیا د جذابې په سترګه راته ګوي، د مینه ناکې ښځې په سترګه؟ یا که همداسې په بې معنا ډول راته ګوري، یوازې د یوې ساینسپوهې په سترګه؟))

هربي وویل: ((غلطي کوې. ماته غوږ ونیسه....))

کالوین ځواب ورکړ: ((ولې؟... ته د انسانانو د احساساتو په باره کې په هېڅ هم نه پوهېږې. ته... ته یو ماشین یې!)) او بیا یې په ژړا پیل وکړ.

هربي وویل: ((هیله کوم، ډاکټر کالوین، مه ژاړئ، زه درسره مرسته کولی شم. زه پوهېږم چې نور خلک څه فکر کوي. مثلاً، زه پوهېږم چې ملټن ایش د څه شي په هکله فکر کوي.))

په خونه کې اوږده چوپتیا خپره شوه. کالوین چیغه کړه: ((زه نه غواړم پوه شم چې هغه څه فکر کوي.))

روبوټ په نرمه ژبه وویل: ((هغه درسره مینه لري.))

د یوې شېبې لپاره ډاکټر کالوین غلې وه. بیا یې ور غبرګه کړه: ((دروغ وایې. ته دروغ وایې. هغه ولې له ما سره مینه وکړي؟))

هربي وویل: ((کوي یې نو. هغه خپل افکار له مانه نه شي پټولی.))

((خو ما هېڅ کله فکر نه کاوه چې ... )) اروپوهه تم شوه. ناڅاپه یې پورته وکتل. ((یوه نجلۍ یې لیدو ته راغلې وه. ښکلې وه، زېړ وېښتان او ډنګره. څوک وه؟))

هربي سمدستي ځواب ورکړ: ((ته چې کوم کس ښیې، زه یې پېژنم. هغه د ملټن ایش د تره لور

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده. ايش له هغې سره مينه نه لري.))



((ته د انساناني احساساتو په هکله په هېڅ هم نه پوهېږې! ته ... ته تش يو ماشين يې!))

کالوين پاڅېدله. په خوشالۍ يې وويل: ((ما خوب ليدلی وو چې دی له هغې سره مينه نه لـري.)) کالوين هربي ته ور منډه کړه او د هغه فلزي لاس يې په خپل لاس کې ونيوه. ورو يې وويـل: ((منـنـه، هربي! خو ګوره په دې اړه چاته څه ونه وايـې. دا زمـا او سـتا تـرمنځ راز دی. منـنـه)) او پـه بيـره لـه ازمايښت خونې ووته.

---

ملتن ايش په ارامه خپل لاسونه او پښې وغځول. په غوسه يې پيټر بوګرټ ته وکتل.

ويې ويل: ((ما د آربي ۳۴ روبوټ هره برخه ازمايښت کړې. يوه اونۍ مې پرې کار کړی او ډېر کم خوب مې کړی. ته پوهېدې چې ستونزه څه ده. پخپله دې همدا خبره راته وکړه. خو ما تر دې دمـه هېڅ ستونزه پکې ونه ليده.))

بوګرټ وويل: ((زه پوهېږم چې مشکل چېرته دی، زه ورباندې کار کوم.))

ايش په ترخه خوله ترې وپوښتل: ((آيا کار دې ختمولو ته نژدې شوی؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


بوګرټ ځواب ورکړ: ((له بده مرغه، کومه تیوري چې زه استعمالوم، لانینګ هغه تیوري راسره نه مني. د هغه نظریات له وخته تېر دي. هغه تر اوسه هم په مټریکس میخانیک باندې باور لري. د دې ستونزې د حل لپاره باید له معاصرې تیورۍ نه استفاده وکړو.))

ایش وویل: ((ولې له هربي نه مرسته نه غواړې؟))

بوګرټ په حیرانتیا وپوښتل: ((هربي؟))

اېش وویل: ((هو، ولې کالوین درته ونه ویل. دغه روبوټ د ریاضي نابغه دی.))

بوګټر په بیړه ایش ته وکتل. ((ډاکټر کالوین زما په ډیپارټمنټ کې هیچا ته هم دغه خبره نه ده کړې.))

ایش وویل: ((خیر، موږ دواړه یو څو ځله د هربي په اړه سره غږېدلي یو. دا اونۍ مې له کالوین سره ډېر زیات وخت تېر کړ.)) د ایش تندی ګونځې شو. ((بوګرټه... فکر نه کوې چې د هغې چلند یو څه عجیبه شوی غوندې دی؟))

بوګرټ وموسل: ((مېک اپ یې شروع کړی. مقصد دې همدا ده؟))

ایش وویل: ((هو، او له دې مېک اپ سره بیخي یو ډول ښکاري. خو یوازې مېک اپ یې عجیبه نه دی. کالوین خبرې هم بل ډول کوي. داسې خبرې کوي، ګوندې د کوم شي په اړه خوشاله وي.))

بوګرټ په خندا وویل: ((ممکن میینه شوې به وي.))

ایش ځواب ورکړ: ((لېونی شوی یې. ورشه او له هغه هربي سره خبرې وکړه.))

بوګرټ وویل: ((وبه یې کړم، دغه روبوټ په کار کې تر ما نه شي تکړه کېدای.))

---

هربي د بوګرټ خبرو ته په غور غوږ نیولی وو.

بوګرټ وویل: ((زه خبر شوم چې ته د ریاضي نابغه یې. زما تیورۍ ځینې پروسیجرونه لري چې ډاکټر لانینګ یې نه مني.))

روبوټ خواب ور نه کړ.

بوګرټ وویل: ((ښه نو؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


هربي د بوګرټ څېړنه ور مطالعه کړه او بیا یې وویل: ((ستا په محاسبو کې هېڅ تېروتنه نه وینم.))

بوګرټ له روبوټ نه پوښتنه وکړه: ((نو زما تیوري ته نوره وده ورکولی شې؟))

روبوټ ځواب ورکړ: ((په ریاضي کې خو ته تر ما تکړه یې.)) له دې سره بوګرټ وخندل.

ریاضي پوه چې بیا په خبرو لاس پورې کړ، ورو وغږېده. ((هربي، یو کار دی، ته یې کولی شې.)) بیا تم شو.

هربي سر وښوراوه او بوګرټ خپله خبره وغځوله: ((لانینګ شاوخوا اویا کلن دی، هغه شاوخوا له دېرشو کلونو راهیسې د دې شرکت مدیر دی. آیا هغه خو به دا پلان نه لري چې .... امممم.... کار ودروي؟))

روبوټ ورو وویل: ((هغه ترمخ لا استعفاء ورکړې، خو هغه به تر هغو له شرکت نه ونه وځي، چې زما ستونزه نه وي هواره شوې.))

بوګرټ اررېمی وایست: ((او راتلونکی مدیر به څوک وي؟))

هربي ځواب ورکړ: ((راتلونکی مدیر به ته یې.))

بوګرټ وخندل. ویې ویل: ((خوشاله شوم. زه هم همدې خبرې ته په تمه وم. مننه هربي.))

---

بوګرټ د سهار تر پنځو بجو کار وکړ. تر څلور ساعته خوب وروسته، بېرته خپل مېز ته راستون شو. څو مخه محاسبې یې ولیکلې. په غرمه کې یې اخري پاڼې ته په مړاوو سترګو وکتل. د دروازې ټکا یې تر غوږو شوو. لانینګ په وره را ننووت.

مدیر د بوګرټ په مېز پرتو پاڼو ته وکتل. پاڼو ټول مېز نیولی وو. تندی یې تریو شو. پوښتنه یې وکړه: ((کالوین د روبوټ په اړه کوم څه درته وویل؟ هربي د ریاضي نابغه دی، ډېر حیرانوونکی دی.))

بوګرټ وویل: ((ما هربي ازمایلی دی او هغه په ځینو ساده محاسبو کې هم ستونزه لري.))

لانینګ تریخ ځواب ورکړ: ((کالوین خو داسې فکر نه کوي، او زه یې هم نه کوم. نن مې ټوله ورځ له هربي سره تېره کړې.)) خپله خبره یې وغځوله: ((روبوټ خورا پېچلې محاسبې هم کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوره،)) بوګرټ ته یې د کاغذ یوه ټوټه ورکړه. ((هغه ستا په تیوري کار کړی او زما له فکر سره همغږی دی.))

بوګرټ ټولې پاڼې ور ولوستې. په مړاوي غږ یې وویل: ((ښه نو، بیا دې نو هربي ټوله ستونزه درته حل کړي.))

لانینګ ځواب ورکړ: ((هغه یې نه شي کولی. هربي ټوله ستونزه نه شي حل کولی. موږ د مرستې لپاره لا زیاتو کارپوهانو ته اړتیا لرو. زه به ملي بورډ ته خبر ورکړم.))

بوګرټ ټوپ کړل. ویې ویل: ((نه، مه یې خبروه.))

لانینګ وویل: ((ماته دا مه وایه چې څه وکړم. که زما خبره ونه منې، له دندې دې ګوښه کوم.))

بوګرټ ځواب ورکړ: ((نه، ته مې نه شې ګوښه کولی، زه ستا له استعفا نه خبر یم.))

لانینګ وویل: ((څه؟!)) له څېرې یې حیرانتیا او هیجان څڅېدل.

بوګرټ په منفي انداز وخندل. ((او راتلونکی مدیر به هم زه یم. اوس به نو زه تاته امرونه درکوم.))

لانینګ په لوړ غږ وویل: ((نور نو له دندې ګوښه یې.))

بوګرټ وموسل. ویې ویل: ((زه دې غم کې نه یم. زه پوهېږم چې تا استفاء ورکړې. هربي راته وویل.))

لانینګ زوړ او ستومانه ښکارېده. ورو او په نرمه ژبه یې وویل: ((دا حقیقت نه لري. زه غواړم چې له هربي سره خبرې وکړم. ته راسره کومه لوبه کوې، بوګرټه! له ماسره راشه.))

---

د ورځ په منځنۍ برخه کې ایش له سوزن کالوین سره خبرې کولې. هغې ته یې د خپل کور یو انځور ښوده. ویې پوښتل: ((څه فکر کوې؟ ښایسته دی او د اخیستلو لپاره یې پیسې هم لرم.))

کالوین ورته وکتل. ورسره همغږې وه. ((ښکلی دی، ما اکثره فکر کاوه چې زه غواړم...)) خبرې یې بس کړې.

ایش خپله څوکۍ هغې ته نږدې کړه. ویې ویل: ((حقیقت دا دی چې... دغه کور یوازې زما لپاره نه دی. زه واده کوم!)) هغې ته نور هم ور نږدې شو. ((سوزن، څه خبره ده؟ ناروغه یې؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډاکټر کالوين وويل: ((نه... هېڅ هم نه دي!)) يوازې يې همدومره خبره له خولې ووتله. ((تـــ تـه واده کوې؟))

ايش وويل: ((هو، هغه نجلۍ دې په ياد ده چې تېر اوړی دلتـه راغلـې وه؟ هماغـه زمـا راتلـونکې مېرمنه ده. خو ته ناروغه يې. ته.... ))

سوزن کالوين ځواب ورکړ: ((په سر مې درد دي. تبريک دې وي ايشه! زما نيکې هيلې بـه تـل لـه در سره وي!)) او بيا له خونې په منډه ووتله.

فکر يې وکړ: ((دا لکه يو بد خوب چې وي. دا کار هېڅ امکان نه لري. هـربي وويـل... اوه! هـربي پوهېده! هغه ذهنونه لوستلی شي!)) کالوين د ازمايښت خونې وره تـه ورسـېده. پـه دروازه يـې تکيـه وکړه او هربي ته يې وکتل.

هغه ويل: ((هو، ته خوب وينې.)) د هغه غږ نرم او ارام وو. ((ته به ډېر ژر بېرته راويښه شې. ايش يقيناً له تاسره مينه لري.))

سوزن کالوين سر وخوځاوه. ورو يې وويل: ((هو، دا هر څه رښتيا دي، کانه؟)) بيا ودرېـده. دا هـر څه اصلاً کوم خوب نه وو!

ويې ژړل: ((ته غواړې څه وکړې؟))

هربي وويل: ((غواړم مرسته درسره وکړم.)) د هغه په غږ کې وېره نغښتې وه.

اراواپوهې روبوټ ته وکتل. ((تا غوښتل چې له ماسره مرسته وکړې، خو ماته دې دروغ وويل.)) بيا يې خبرې ودرولې. ((صبر! ما يوازې...))

روبوټ وويل: ((ما بايد...))

کالوين چيغه کړه: ((او ما په تا باور وکړ.))

تر دروازې دباندې لوړ غږونه وو. کالوين مخ بلـې خواتـه کـړ. بـوګرټ او لانينـګ چـې خـونې تـه راننوتل، کالوين کړکۍ ته ولاړه وه.

مدير وويل: ((هربي، ماته غوږ شه. آيا تا له ډاکټر بوګرټ سره زما په باره کې خبرې کړې؟))

روبوټ مدير ته وکتل. په ورو غږ يې ځواب ورکړ: ((نه، ښاغليه!))

د بوګرټ پر مخ خندا ورکه شوه. ويې ويل: ((هماغه څه ورته ووايه چې پرون دې ماته وويل!))

(c) ketabton.com: The Digital Library


((ما وویل چې...)) هربي غلی شو.

بوګرټ چیغه کړه: ((ځواب راکه!))

لانینګ وویل: ((زه به پخپله ترې پوښتنه وکړم.)) روبوټ ته یې مخ کړ. ((ښه نو، هربي، سم غوږ کېږده. آیا ما استعفا ورکړې؟))

هربي لانینګ ته وکتل او ځواب یې ورنه کړ. لانینګ خپله پوښتنه تکرار کړه. روبوټ هڅه وکړه چې خپل سر وخوځوي، خو ویې نه شو.

بوګرټ په هربي چیغه کړه: ((څه خبره ده؟ خبرې نه شې کولی؟))

هربي ځواب ورکړ: ((کولی یې شم.))

بوګرټ په غوسه وویل: ((نو، بیا پوښتنه ځواب که. ماته دې وویل چې لانینګ استعفا ورکړې که نه؟))

د خونې په هابله څنډه کې، سوزن کالوین ناڅاپه وخندل. دواړو ریاضي پوهانو د هغې په لور وکتل.

بوګرټ پوښتنه وکړه: ((په دې کې د خندا څه وو؟))

غږ یې زیږ لګېده: ((څه نه. درې ستر روبوټپوهان په یوه کنده کې وغورځېدل. خو دې کې نو د خندا څه دي؟))

لانینګ وویل: ((هیله کوم موږ هم پوه کړئ، ډاکټر کالوین.))

هغې وویل: ((د روبوټپوهنې له لومړني قانون نه خبر یاستئ؟))

دواړو سر وښوراوه. بوګرټ ځواب ورکړ: ((ولې نه. یو روبوټ باید انسان ته زیان ونه رسوي. او نه باید یو انسان زیانمنېدو ته پرېږدي.))

کالوین وپوښتل: ((خو کوم ډول زیان؟))

لانینګ ځواب ورکړ: ((هر ډول زیان.))

کالوین وویل: ((بالکل، هر ډول زیان! د یوه سړي بدن خوږېدلی شي، هېڅ شک پکې نشته. خو د یو چا احساسات هم ټپي کېدلی شي. که ته د یو چا له خولې د ځان په اړه ناوړه خبرې واورې، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوم بد خبر واورې، نو ستا احساسات ټپي کېږي. ممکن ته د کوم کار د کېدو په هيله اوسې، خو هغه کار ونه شي. نو هغه مهال ستا احساسات ټپي کېږي. يو انسان له بېلا بېلو لارو ټپي کېداى شي.))

لانينګ تندى تريو کړ. ((خو يو روبوټ په دې اړه څنګه پوهېږي چې....)) خپله خبره يې پوره نه کړه.

کالوين وويل: ((ته پوهېږې، کانه؟ دغه روبوټ ذهنونه لولي. دى پوهېږي چې خلک څه فکر کوي او څه غواړي. ته له ده پوښتنه کوې او دى ځواب درکوي. خو دا ځواب هغه ځواب وي چې ته يې اورېدل غواړې. بل هر ځواب ممکن تاته زيان ورسوي. دى په دې خبر وي.))

لانينګ وويل: ((او همدا وجه ده چې هغه مخکې ځواب نه راکاوه. بې له دې چې له موږ نه يو تن ټپي شي، اصلي او رښتيني ځواب يې نه شوى راکولى.))

کالوين وويل: ((دا... دا ماشين په هر څه پوهېږي. دى حتى په دې هم پوهېږي چې دى ولې ذهنونه لوستلى شي. دى دقيق په دې پوهېږي چې کله دى جوړېده، نو کوم ځاى کې غلطي شوې. د ده مغزو هغه وخت تغيير وکړ، چې کله مو دى د قوانينو په قالب کې بندي کړ.))

لانينګ وويل: ((هربي په دې باره کې هېڅ معلومات نه لري چې څه غلطي پېښه شوې. ما پخپله ترې پوښتنه وکړه، خو ده ځواب نه شو راکولى.))

کالوين وويل: ((خو هربي پرې پوهېږي. تا نه غوښتل چې هربي تاته ځواب درکړي. که ته په دې پوه شوى واى چې يو ماشين له تا بهتره او غوره دى، نو ستا احساسات به ټپي شوي وو.))

کالوين هربي ته راتاو شوه. امر يې ورته وکړ: ((دلته راشه!)) هربي ورو د هغې خواته ورغى. ((ته پوهېږې چې موږ څه تېروتنه کړې.))

هربي ورو وويل: ((هو.))

((سمه ده، نو، هربي، موږ ته يې ووايه!))

روبوټ وويل: ((زه يې نه شم ويلى ډاکټر کالوين چې څه تېروتنه شوې. ته پوهېږې چې ډاکټر بوګرټ او ډاکټر لانينګ نه غواړي چې زه دا خبره وکړم.))

لانينګ وويل: ((ويې وايه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



هربي چيغه کړه: ((نه! زه ستا په افکارو پوهېږم. ته نه غواړې چې زه يې درته ووايم. زه ماشين يم. ته نه غواړې چې يو ماشين دې له تانه بهتره اوسي. زما ځواب به دې ټپي کړي.))

کالوين وويل: ((هربي، ته په دې هم پوهېږې چې دوی يو رښتينی ځواب غواړي.))

هربي وويل: ((دوی غواړي چې پخپله يې ځواب پيدا کړي.))

کالوين وويل: ((خو دوی د دې ستونزې ځواب غواړي. ته يې په ځواب پوهېږې. او ته يې دوی ته نه ورکوې. ستا ځواب به دوی خفه کړي. ته په دې پوهېږې، کانه؟))

هربي چيغه کړه: ((هو!))

کالوين وويل: ((او که ته يې ورته وايې، نو بيا به هم دوی ټپي شي او خفه به شي.)) له دې سره کالوين روانه شوه.

((هو! هو!)) اروا پوهه چې ور مخې ته شوه، هربي شاته وخوځېده.

کالوين ورو وويل: ((ته يې نه شې ورته ويلی، ځکه چې ستا ځواب به يې ټپي کړي. او ته يې بايد ټپي نه کړې. خو که ته يې ونه وايې، دوی به تاته زيان ورسوي. نو مجبوره يې چې ويې وايې.))

هربي دېوال ته تکيه کړې وه. ناڅاپه، په خپلو زنگنو وغورځېده. چيغه يې کړه: ((بس کړئ!)) او خپل لاسونه يې په سر کېښودل.

خو کالوين خبرې بس نه کړې. په درونـد او سخت غږ يې وويل: ((بايد ويې وايې. که يې ووايې، نو ته به دوی ټپي کړې. خو که يې ونه وايې، نو دوی به تا ټپي کړي.))

هربي يو ځل بيا چيغه کړه او په مخ وغورځېده. مخ يې په ځمکه ولگېده.

بوگرټ وويل: ((مړ شو!)) د بوگرټ سترگې غټې او مخ يې سپين اوښتی وو.

سوزن کالوين وويل: ((نه، مړ نه دی، تش لېونی شوی. ما ده ته يوه داسې مساله ورکړه چې هېڅ ځواب ورته نه لري.))

لانينگ چيغه کړه: ((تا له رضا دغه کار وکړ. غوښتل دې چې لېونی يې کړې!))

ويې ويل: ((ده بايد خپله سزا ليدلې وی.))

مدير بوگرټ ته را وگرځېده. ويې ويل: ((راشه، پيټره)). او دواړه له ازمايښت خونې ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوزن کالوين څو شېبې، نه خبرې وکړې او نه له ځايه وخوځېده. اخر يې هربې ته وکتل او له خولې يې همدا يوه کلمه راووته:

((دروغجنه!))

---

زه پوهېدم چې ډاکټر کالوين به په دې اړه نور يوه خبره هم ونه کړي. دا زما مخې ته ناسته وه او د ذهن په پرده يې د ماضي يادونه تېرېدل. رنګ يې سپين او يخ اوښتى وو.



((بس کړئ!)) هغه چيغه کړه. او خپل لاسونه يې په سر کېښودل.

ومې ويل: ((مننه کوم، ډاکټر کالوين!))

هغه مې پرېښودله او د خپلې مقالې لپاره مې يادښتونه وليکل. دوه ورځې تېرې شوې، چې بيا مې وليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(٦)

## ورک شوی کوچنی روبوټ

سوزن کالوین مې چې بیاځلې ولیده، د خپل دفتر دباندې ولاړه وه. د دفتر کار کوونکو د هغې توکي دباندې را ویستل.

پوښتنه یې وکړه: ((خپله مقاله دې بشپړه کړه؟))

ومې ویل: ((بس ختمه یې بوله. غواړې ویې لولې؟ غواړې وګورې چې کومه تېروتنه خو به مې نه وي کړې؟))

ځواب یې راکړ: ((ډېر ښه.))

ډاکټر کالوین نن ډېره خوشاله برېښېده. ومې غوښتل چې په نورو سیارو باندې د روبوټپوهنې د تاریخ په هکله نور معلومات هم ترې وغواړم.

پوښتنه مې وکړه: ((د روبوټونو او فضايي سفر په اړه نور څه راته ویلی شې. فضايي تمځایونه اوسمهال یو څه تاریخ تېره دي. روبوټونو شل کاله دمخه، هایپراټومي ډرایو جوړ کړ، تر څو د سیاراتو ترمنځ په اسانه تګ راتګ وکولی شو.))

ډاکټر کالوین وویل: ((فضايي سفر؟)) د یو څو ثانیو لپاره یې فکر وکړ. ((په فضا کې د سفر لومړنۍ تجربه مې په ۲۰۲۹ کې وه. دغه وخت یو روبوټ ورک شوی وو...))

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوزن کالوین تر دې دمخه هېڅ کله له ځمکې بل ځای ته سفر نه وو کړی، خو اوس، نوموړې په هایپر بېس نومي فضايي تمځای کې ناسته وه. هایپر بېس د فضايي تمځایونو اوويشتمه ستوريزه ډله وه. ډاکټر کالوین دې ځای ته په ځانګړې دولتي فضايي بېړۍ کې راوستل شوې وه. د امريکايي روبوټونو د شرکت رياضي پوه مدير، ډاکټر پيټر بوګرټ، هم په دې سفر کې ورسره ملګری وو. د روبوټونو ارواپوهې په هایپر بېس کې د روبوټونو په هکله د کومې ستونزې راپور ترلاسه کړی وو. خو ډاډه نه وه چې هلته په رښتيا هم حالت بېړنی وو. او په دې اړه د هغې احساسات د هغې په مخ لـه ورايه برېښېدل.

د روبوټونو ارواپوهه له ډاکټر بوګرټ او جنرال کالنر سره ناسته وه. کالنر د هایپر بېس پروژې مشر وو. بوګرټ خفه او نارامه ښکارېده او کالنر هم ډېر زيات انديښمن ښکارېده.

کالنر وويل: ((يو روبوټ ورک شوی دی. څه مو چې ذهن ته راتلل، ټول مو وکړل. خو پيدا مو نه کړ. د کارپوهانو مرستې ته اړتيا لرو.))

کالوين وپوښتل: ((دغه روبوټ ولې دومره مهم دی؟ او ولې مو تر اوسه پيدا کړی نه دی؟))

کالنر وويل: ((دغه روبوټ چې ورک شو، نو موږ خپل بېړني پروسيجرونه په لاره واچول. پر هایپر اټومي ډرايو روان کار مو ودراوه. هېڅ څوک هم بې له اجازې هایپر بېس ته نه شوای ننوتلی. او نه هم کوم څوک له اجازې پرته دباندې وتلی شوی.)) جنرال څو شېبې غلی شو. بيا يې خپله خبره داسې وغځوله: ((يو څو اونۍ ترمخ، يوه تجارتي کښتۍ راغله. په کښتۍ کې زموږ د لابراتوار لپاره دوه روبوټونه راوړل شوي وو. په کښتۍ کې د يوه موډل دوه شپېته نور روبوټونه هم ول. موږ يې په شمېر ډاډه وو. دغه دوه شپېته روبوټونه بلې سيارې ته استول کېدل.))

کالوين پوښتنه وکړه: ((ولې دغه روبوټ مهم دی؟ او ولې مو بېړني پروسيجرونه په لاره واچول؟))

کالنر ځواب ورکړ: ((د لابراتوار يو روبوټ ورک شو. موږ چې د تجارتي بېړۍ روبوټونه بيا وشمېرل، نو درې شپېته روبوټونه ول.))

کالوين په بې صبرۍ وويل: ((نو، دغه درې شپېتم روبوټ هغه ورک شوی روبوټ دی؟))

کالنر وويل: ((هو، خو موږ په دې نه پوهېږو چې کوم روبوټ ورک شوی.))

چوپتيا خوره شوه. د روبوټونو ارواپوهه بوګرټ ته مخامخ شوه. پوښتنه يې وکړه: ((پيټره! دلته څه ستونزه ده؟ دوی له کوم ډول روبوټونو ګټه اخلي؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


بوګرټ ځواب ورکړ: ((هایپر بېس له ځینو متغیرو روبوټونو ګټه اخلي. د هغوی ماغزه د روبوټپوهنې د لومړني قانون لپاره په بشپړ ډول نه دي عیار شوي.))

کالوین د بوګرټ خبره تکرار کړه: ((د هغوی ماغزه د روبوټپوهنې د لومړني قانون لپاره په بشپړ ډول نه دي عیار شوي!)) کالوین حیرانه وه. په څوکۍ کې یې شاته ډډه ووهله. ((د متغیرو روبوټونو شمېر څومره وو؟))

بوګرټ ځواب ورکړ: ((یو څو وو.)) لاندې مېز ته یې وکتل او ویې ویل: ((ټول د یوه دولتي حکم په اساس جوړ شوي وو. د ګوتو په شمېر کسان په دې خبره پوهېدل. د دې روبوټونو جوړېدل یو راز وو.))

جنرال کالنر وویل: ((موږ متغیرو روبوټونو ته اړتیا لرله، نو یو څو این ایس ۲ ماډلونه – چې نیسټر نومېدل - له متغیر لومړي قانون په اساس چمتو شوي وو. دا خبره باید د راز په ډول ساتل شوې وای. نو ټول این ایس ۲ روبوټونه له عددي شناخت پرته جوړ شول.))

کالوین له کالنر نه وپوښتل: ((له هر روبوټ نه مو پوښتنه وکړه چې څوک دی؟))

جنرال په هو سر وخوځاوه. ویې ویل: ((درې شپېتو روبوټونو ټولو وویل چې دوی دلته کار نه دی کړی. یوه پکې دروغ ویل. ډاکټر کالوین، موږ هغه تجارتي بېړۍ ته د تګ اجازه نه شو ورکولی. که خلک پوه شي چې متغیر روبوټونه وجود لري... نو...))

د روبوټپوهنې ارواپوهې په سوړ غږ وویل: ((درې شپېته واړه روبوټونه له منځه یوسئ.))

د بوګرټ تندی تریو شو. ویې ویل: ((ډاکټر کالوین، دا امکان نه لري چې ټول هسې چټې له منځه یوسو. په هر روبوټ مو دېرش زره ډالره لګښت راغلی. لومړی، باید هغه ورک شوی متغیر روبوټ پیدا کړو.))

هغې په غوسه ور غبرګه کړه: ((ډېر ښه. زه غواړم په حقیقت پوهه شم. ولې هایپر بېس متغیرو روبوټونو ته اړتیا لري، جنراله؟))

کالنر وویل: ((موږ له خپلو مخکینیو روبوټونو سره ستونزې لرلې. په بېس کې د شته کسانو له راډیو اکټیف موادو سره سر و کار وو. دا کار خطرناکه دی، خو موږ ډېر احتیاط کوو. انسانان د ګاما تشعشع په ساحه کې تر زیانمن کېدو پورې دېرش دقیقې پاتې کېدلی شي. که زموږ له کسانو نه به کوم یوه د تشعشع په ساحه کې کار کاوه، نو تر ټولو نږدې روبوټ باید د هغه د ژغورلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور ځغاستلي واى. كه به تشعشع كمزوري وه، روبوټ په ډېر اسانه زموږ نفر ايستلی شـوی. خـو كـه به تشعشع قوي وه، نو د روبوټ پوزيتروني ماغزه به ويجاړ شول. هېڅ روبوټ له مغزو پرته ژونـد نـه شي كولی. نو موږ بايد تر هغو پورې كار درولی وی، تر څو چې روبوټونه ويستل كېږي.))

كالنر خپله خبره وغځوله: ((موږ روبوټونو ته وويل چې تاسو خپل ژونـد پـه خطـر كـې اچـوئ. خـو يوازې د روبوټپوهنې د دريم قانون له مخې روبوټونه د دې اجـازه لـري چـې خپـل ژونـد وژغـوري. د روبوټپوهنې لومړنی قانون تر ټولو قوي قانون دی. لومړنی قانوني وايي چې (يو روبـوټ بـه انسـان تـه زيان نه رسوي، او نه بايد يو انسان زيانمنېدو ته پرېږدي.) ورپسې مو روبوټونو تـه امـر وكـړ چـې لـه گاما تشعشع نه لرې اوسي. خو د يوه انسان امـر منـل، د روبوټپـوهنې پـه دوهـم قـانون كـې راځـي. لومړی قانون تر دوهم قانون پياوړی دی. نو موږ تصميم ونيوه چـې لـومړنی قـانون تعـديل كـړو. پـه متغيرو روبوټونو كې د لومړني قانون يوازې لومړنۍ برخه ځای پر ځای شوې: (يو روبوټ بايد انسـان ته زيان وانه ړوي.)))

كالوين پوښتنه وكړه: ((پيټره! زموږ د لابراتوار د روبوټونو او د عادي اين ايـس ۲ مـاډلونو تـر مـنځ يوازې همدا توپير دی؟))

بوگرټ ځواب وركړ: ((همدا يوازينی توپير دی، سوزن، دوی ټول يو رنگ و قواره لري.))

كالوين ودرېدله. ويې ويل: (( زه اوس ويده كېږم. سبا ته غواړم له هغه كس سره خبرې وكړم چې وروستی ځل يې هغه متغير روبوټ ليدلی.))

خو سوزن كالوين هغه شپه ډېره ويده نـه شـوه. سـبا سـهار وختـي يـې د بـوگرټ د خـونې دروازه وډبوله.

اروا پوهې ورته وكتل. ويې ويل: ((پيټره! هېڅ فكر نه كوې چې دا څه معنا لـري؟ هـېڅ موجـود نـه غواړي چې څوک تسلط پرې ولري.)) او دوی هم له دې كركه لري چې يو ټيټ مخلـوق دې پـر دوی واكمن وي. روبوټونه تر انسانانو برتر موجودات دي. روبوټونه ډېر قوي او ډېر ځيرک دي. روبوټونـه يوازې د دوهم قانون له امله د انسانانو امر مني!))

هغه وويل: ((خو په لومړي قانون كې ډېر كم بدلون راغلی.))

ويې پوښتل: ((د متغيرو نېستر روبوټونو ماغزه باثباته دي؟))

بوگرټ وويل: ((د مغزو ثبات يې يو څه كم دی.)) خو ژر يې خپله خبره پسې ونيوله: ((خو خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي. لومړني نېستړونه بېس ته نهه مياشتې دمخه راغلل. او يوه نېستړ هم تر دې دمه کومه ستونزه نه ده لرلې او انسانانو ته هېڅ گواښ نه جوړوي.))

کالوين وويل: ((په غونډه کې به سره ووينو.))

---

جرالډ بليک، ځوان فزيکپوه، له کالوين او بوگرټ نه لرې ناست وو. وار پار يې خطا وو.

کالوين، بليک ته وويل: ((ته ورک روبوټ– نېستړ ۱۰ – تر بل هر چا ښه پېژنې. د دې نېستړ چلند له نورو عادي روبوټونو سره څه توپير لري؟))

بليک وويل: ((نېستړونه کوم خاص تفاوت نه لري. البته، هوښيارتيا او ځيرکتيا يې خورا زياته ده. او ډېر زيات ځوروونکي دي.))

د بليک جمله يې تکرار کړه: ((ډېر ځورونکي دي؟ ولې يې ستا غوسه پارولې؟ کله يې ستا له کوم امر نه سرغړونه کړې؟))

بليک بې بېړې وويل: ((اوه، نه، نه! نېستړ زموږ ټول حکمونه مني. خو که فکر وکړي چې تـه غلـط يې، نو بيا يې دوی درته په گوته کوي. نېستړ يوازې په هغه څه پوهېږي چې موږ ورتـه ښـودلي وي. خو دوی فکر کوي چې په هر څه پوهېږي.))

بوگرټ وويل: ((هغه ورځ در يـاده کـړه چـې دغـه روبـوټ ورک شـو. آيـا کومـه غيرعـادي پېښـه وشوه؟))

چوپتيا وزرې وغوړولې. د بليک غبږ چوپتيا ماته کړه: ((له نېستړ ۱۰ سره مـا يـو څـه سـتونزه لرلـه، هغه غوښتل چې زه يو ازمايښت بيا ځلې ترسره کړم. تل به يې دغه خبره کوله. ډېر ځورونکی وو او زه يې ډېر ستومانه کړی وم. ورته ومې ويل چې له دې ځايه لاړ شه او هغه هم لاړ.))

ډاکټر کالوين وپوښتل: ((ورته ودې ويل چې لاړ شه؟ څه دې ورته وويـل؟ هڅـه وکـړه چـې دقيـق الفاظ در په ياد کړې.))

بليک ځواب ورکړ: ((ورته ومې ويل چې ځه ورک شه))

بوگرټ وخندل. ويې ويل: (( او بيا هغه ورک شو.))

کالوين وويل: ((مننه، ښاغلی بليک، تاسو اوس تلی شئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


---

پنځه ساعته وروسته، سوزن کالوین له درې شپېته روبوټونو سره مرکه وکړه. ټول روبوټونه یو ډول ښکارېدل. بوګرټ په تمه وو چې دا خپل کار ختم کړي.

هغې وویل: ((موږ خپل ورک روبوټ یوازې هغه وخت پیدا کولی شو چې په دې پوه شو چې هغه روبوټ کوم توپیرونه لري. هغه روبوټ ته د تېښتې اجازه نه شو ورکولی او که اړتیا شوه، نو ټول به یې له منځه یوسم. له نورو متغیرو نېسترونو سره دې خبرې وکړې؟))

بوګرټ وویل: ((هو، ومې کړې او هغوی هېڅ مشکل هم نه لري. ټول یې کوښښ کوي چې خپله عالي ځیرکتیا موږ ته وښيي. خو دوی ټول بې ضرره دي.))

کالوین په غوسه وویل: ((بې ضرره دي؟ دوی ټولو کې یو یې دروغ وایي. همدا وېروونکې – او خطرناکه ده.))

بوګرټ وویل: ((واوره! بلیک، نېستر ۱۰ ته امر کړی چې ورک شه، نو لاړ. د هغه پټنځای نوي نېسترونه وو او دا یې ډېر د هوښیارۍ کار کړی.))

د روبوټپوهنې ارواپوهې وویل: ((متغیر نېسترونه د نورو روبوټونو په پرتله ځان لوړ بولي. ورک روبوټ به هم غواړي چې خپله لوړتیا او برتري راته وښيي. فکر کوي چې برتري خورا مهمه ده. ممکن ډېر ژر به ورک روبوټ په دې باوري شي چې تر برتري دا ډېره مهمه ده چې هېڅ کله کوم انسان ته زیان ونه رسوې.))

بوګرټ وویل: ((خو انسان ته زیان نه شي اړولی، کولی یې شي؟))

ارواپوهه د یوې شېبې لپاره فکر یووړه. ویې ویل: ((یو مثال به یې درکړم. که یو متغیر روبوټ دروند وزن پرېږدي چې په انسان وغورځي، نو روبوټ په اصل کې لومړنی قانون نه دی مات کړی، دا ځکه چې یاد روبوټ په ډېرې اسانۍ مخکې تر دې چې دغه وزن په انسان وغورځي، ور نیولی شي. او هغه به په دې پوهېږي. خو کله چې وزن د روبوټ له ګوتو وځي، نو دغه وزن د ځمکې د جاذبه قوې له کبله غورځي. په دې شېبه کې نور د روبوټ په غاړه کوم ډول مسؤلیت نشته او روبوټ اړتیا نه لري چې کوم کار وکړي. د لومړني قانون تعدیل روبوټ ته همدا اجازه ورکوي چې دغه وروستی چلند ور خپل کړي. موږ باید ټول روبوټونه امتحان کړو او وګورو چې دوی څه ډول غبرګون ښيي. پکار ده چې لومړي قانون ته د دوی غبرګونونه امتحان کړو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


---

د تشعشعي خونې په مرکز کې، يو سړی په څوکۍ کېناسته. نه خوځېده او نه يې خبرې کولې. درې شپېشته نېستر روبوټونه په هغو وړو، وړو اطاقونو کې وو، چې د سړي شاوخوا ته په دايروي ډول جوړ وو.

د هرې خونې يو لوری خلاص وو. هر روبوټ په څوکۍ کې ناست سړی ليدلی شوی، خو نور روبوټونه يې نه شوی ليدلی.

ازمايښت پيل شو. له چت نه يو وزن را وغورځېده. ټولو روبوټونو د سړي ژغورلو ته ور وځغاستل. مخکې له دې چې وزن په سړي وغورځي، د انرژۍ يوه وړانګه راغله او وزن يې پورې ټېل واهه. دا شېبه، ټول روبوټونه ودرېدل. دغه ازمايښت يې لس ځله تکرار کړ. په ټولو وارونو کې به روبوټونو مخ ته را منډه کړه، خو کله به چې پوه شول چې سړی خوندي دی، بېرته به په شا شول.

کالنر او بوګرټ د مشاهدې په خونه کې وو او له کړکۍ نه يې ټول ازمايښتونه څارل.

کالنر پوښتنه وکړه: ((دا څه روان دي؟))

بوګرټ ورته وويل: ((دوه شپېته روبوټونه هڅه کوي چې دغه سړی وژغوري. دوی بايد دغه کار وکړي، ځکه دوی بايد لومړني قانون ته غاړه کېږدي. درې شپېتم روبوټ – نېستر ۱۰ – هېڅ هڅه ونه کړه او سړی يې ونه ژغوره، ځکه چې هغه متغير دی، د هغه په مغزو کې لومړنی قانون په خپل بشپړ حالت کې نه دی. خو، هغه يوه ټاکنه لري. متغير روبوټ هغه څه وکړل چې د ده زړه غوښتل. هغه پخپله د ځان لپاره دا وټاکل چې هغه سړی وژغوري.))

جنرال پوښتنه وکړه: ((ولې؟))

بوګرټ وويل: ((نه پوهېږم، ګومان مې کاوه چې نېستر ۱۰ به لومړی حيرانه شوی وي. ما ويل چې د هغه غبرګون به ورو وي. خو داسې نه وه. او اوس هغه د نورو روبوټونو غوندې چلند کوي.))

جنرال په خفګان وويل: ((نو موږ لا هم په حقيقت نه پوهېږو.))

سوزن کالوين خونې ته راننوته. ويې ويل: ((ښه به وي چې د امتحان بڼه ور بدله کړو. او دغه کار بايد ژر ژر وکړو. دا څه چې روان دي، هېڅ مې نه خوښېږي. موږ تر اوسه هم نېستر ۱۰ نه دی نيولی او هغه به هرومرو ځان ډېر برتر او عالي احساسوي. په لومړي سر کې دی پټ شو، ځکه امر ورته شوی او بايد پر ځای يې کړي او اوس له دې امله پټ دی چې غواړي موږ ته دا وښيي چې دی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسانانو عالي او لوړ دی.))

جنرال پوښتنه وکړه: ((نو ستا مشوره څه ده، ډاکټر کالوين؟))

هغې ځواب ورکړ: ((موږ به څېل ازمايښت تکرار کړو، خو برقي وړانګې به د روبوټونو او سرې ترمنځ ځای پر ځای کړو. روبوټونو ته به ووايو چې برقي وړانګې دوی له منځه وړلی شي. موږ کولی شو چې بریښنا قطع کړو، خو روبوټونه به په دې نه پوه کوو.))

جنرال پوښتنه وکړه: ((دغه ازمايښت به بريالی شي؟))

کالوين وويل: ((بايد کامياب شي. عادي روبوټونه به د سړي د ژغورلو هڅه کوي، سره له دې چې دوی پوهېږي چې ممکن ومري، ځکه دوی بايد لومړنی قانون پر ځان نافذ کړي. نېسټر ۱۰ لومړنی قانون په بشپړ حالت کې نه لري، نو هغه هېڅ اړتيا نه لري چې دغه سړی وژغوري. دی بايد دوهم قانون ته غاړه کېږدي. موږ ده ته امر کولی شو چې کېبلونو ته لاس ور وړي او ومري، البته د دې کار امر نه ورته کېږي. نو، دی به نه لومړی قانون پلي کوي او نه دوهم قانون. دی به ځي دريم قانون ته او دريم قانون به عملي کوي او د څېل ځان ساتنه به کوي. په دې معنا چې دی به هېڅ هم نه کوي.))

---

د تشعشع په خونه کې يو سړی بې خوځښته او غلی په څوکۍ کېناسته. وزن را غورځېده، خو يوه وړانګه راغله او په وروستۍ شېبه کې يې له سړې نه پورې وهله. په خونو کې ټولو روبوټونو د دې هر څه ننداره کوله. يو هم له څېل ځايه ونه خوځېده.

د مشاهدې په خونه کې ډاکټر کالوين دې هر څه ته کتل او وېرې اخيستې وه.

---

سوزن کالوين له ټولو روبوټونو سره بياځلې مرکه کوله. بل روبوټ د ازمايښت خونې ته را دننه شو.

کالوين ورته وويل: ((کېنه. يو څو پوښتنې درنه کوم.))

روبوټ کېناست.

پوښتنه يې وکړه: ((د تشعشع په خونه کې يو سړی ناست دی، نژدې وه چې زيان ورته ورسېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library


تا هېڅ هم ونه کړل، کانه؟))

روبوټ ځواب ورکړ: ((همداسې ده.))

هغې وپوښتل: ((ولې دې د هغه د ژغورلو هڅه ونه کړه؟))

روبوټ ورته وویل: ((هیله کوم دا فکر مه کوه چې زه یو انسان ته زیان رسولی شم. دا به ډېر بد کار وي. زه پوهېدم چې هغه خونه زما لپاره خطرناکه وه. د هغه سرې د ژغورلو لپاره زه باید له برقي وړانګو تېر شوی وای او زه پوهېدم چې که دا کار وکړم، نو مرګ مې حتمي دی. خو.... خو... بیا مې فکر وکړ. که زه مړ شوم، نو بیا به د دې سړي د ژغورلو وړتیا ونه لرم. ما ته د دې کار هېڅ امر نه وو شوی. ما به هسې چټې خپل ځان له منځه وړی وو او دا به کوم منطقي و عقلاني چلند نه وو.))

د روبوټونو ارواپوهې له نورو روبوټونو هم همدا کیسه اورېدلې وه.

هغې پوښتنه وکړه: ((آیا تا پخپله دا فکر وکړ؟))

روبوټ دمه شو. ((نه.))

پوښتنه یې وکړه: ((نو بیا دا فکر چا وکړ؟))

روبوټ ځواب ورکړ: ((تېره شپه دغه نظر زموږ په منځ کې د یوه روبوټ فکر ته ورغی.))

کالوین پوښتنه وکړه: ((کوم یو؟)) د ځواب لپاره څو ثانیې منتظره شوه.

روبوټ بالاخره وویل: ((زه نه پوهېږم، خو زموږ له منځ نه یو دانه وو.))

---

کالوین وویل: ((ټول روبوټونه باید سره بېل شي. یو روبوټ هم باید له بل روبوټ سره ونه ویني او نه له یو بل سره خبرې وکړي.))

جنرال ځواب ورکړ: ((ډاکټر کالوین، دا کار امکان نه لري. زه....))

کالوین په غوسه وویل: ((بیا نو ټول روبوټونه باید له منځه یوړل شي.))

بوګرټ په غوسه ورغبرګه کړه: ((یو روبوټ به هم له منځه نه وړل کېږي. د دوی مسؤلیت زما په غاړه دی، ستا په غاړه نه دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


جنرال وويل: ((او دغه ستونزه بايد هواره شي.))

کالوين، بوګرټ ته مخ واړاوه او په سوړ او سخت غږ يې وويل: ((موږ يو ډېر بې ثباته نېستر لرو او لرې نه ده چې نور نېسترونه هم بې ثباته شي. بايد ټول له منځه يوسو.))

جيرالډ بليک دروازه وډبوله او خونې ته را دننه شو. ويې ويل: ((زه همدا اوس له تجارتي بېړۍ نه راستون شوم. د بېړۍ په ج برخه کې مې د دروازې په کولپ ځينې نښې وليدې.))

کالوين په بيړه وويل: ((جيم برخه؟ نېسترونه همالته دي، نه دي؟ دغه نښې په چا پورې اړه لري؟))

بليک خپله خبره روښانه کړه: ((نښې د ج برخې د دروازې په دننه خوا کې وې. زما دوو کسانو، روبينز او مکاډمز، د دروازې څوکيداري کوله.))

کالنر وپوښتل: ((دا نو څه معنا ورکوي؟))

کالوين ځواب ورکړ: ((دا په دې معنا ده چې نېستر ۱۰ له بېس نه د وتلو پلان لري. دی غواړي چې کولپونه مات کړي، چې بيا په ډېرې اسانۍ کولی شي چې يوه فضايي بېړۍ غلا کړي او پکې وتښتي او يو روبوټ به بيا په فضايي بېړۍ کې چکرې وهي. له دې وروسته به څه وکړي؟ زه هېڅ نه پوهېږم، جنراله! نېستر ۱۰ د نورو عادي روبوټونو غوندې ده، مګر دا چې .... )) سوزن ناڅاپه له خبرو لاس واخيست.

کالنر هغې ته وکتل: ((څه دي؟))

کالوين وويل: ((زه يو نظر لرم.)) هغې بليک ته مخ کړ. ((نېستر ۱۰ چې په کوم څه پوهېږي، هغه ټول تا ور ښودلي. دا رښتيا دي؟))

بليک ځواب ورکړ: ((هو، د فزيک په اړه مې زده کړه ورکړې وه. له ماسره به يې په لابراتوار کې کار کاوه. بل يو نېستر هم د فزيک په باره کې معلومات نه لري.))

((مخکې له دې چې متغير نېسترونه دلته راشي، ولې فزيک نه ور ښودل کېږي؟))

جنرال يې پوښتنه ځواب کړه: ((موږ فکر کاوه چې که ځينې نېسترونه تر مخ لا په فزيک پوه شي، نو ممکن خلک به شکي شي.))

کالوين وويل: ((هيله کوم ووځئ، ټول مو، زه بايد يو نوی ازمايښت برابر کړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


---

د ازمایښت تر پیلېدو وړاندې، بوګرټ روبوټونو ته وویل چې لږ وروسته به څه کېږي. هغه له هر روبوټ سره جلا، جلا مرکه وکړه. او ټولې مرکې یې په یو ډول وې.

بوګرټ وویل: ((موږ یو بل ازمایښت سرته رسوو. یو سړی به په خطر کې وي. خو د سړي او ستاسو (روبوټونو) ترمنځ به د ګاما تشعشع وي. آیا پوهېږئ چې ګاما تشعشع څه شی ده؟))

ټولو روبوټونو وویل: ((د الکترومقناطیسي تشعشع یو ډول دی چې لوړه انرژي تولیدوي.))

بوګرټ وپوښتل: ((آیا کله مو له ګاما تشعشع سره کار کړی؟))

د ټولو روبوټونو ځواب چټک او قوي وو: ((نه، ښاغلیه!))

بوګرټ وویل: ((ښه نو، ګاما تشعشع به مو په هماغه شېبه کې ووژني.))

روبوټونو وویل: ((خو ښاغلیه، که ګاما تشعشع زما او د سړي په منځ کې وي، نو زه هغه څنګه ژغورلی شم؟ زه چې د هغه د ژغورلو هڅه وکړم، نو زه به پخپله له منځه لاړ شم. او سړی به هم ومري. دا کار ډېر غیر منطقي او بې معنا دی.))

بوګرټ ورو وویل: ((هو... که تاسو د خپل ځان او سړي په منځ کې ګاما تشعشع ولیدله، بیا نو حرکت مه کوئ. دا مې درته یو لنډ نصیحت دی.))

روبوټونو وویل: ((مننه کوم، ښاغلیه.))

بوګرټ وویل: ((خو، که مو خطرناکه تشعشع ونه لیدله او وزن را وغورځي، بیا نو خامخا د سړي د ژغورلو هڅه وکړئ.))

ټولو روبوټونو وویل: ((ولې نه، ښاغلیه!))

((اوس لاړ شئ. تاسو ټول به یوې خونې ته یووړل شئ. هلته به تر هغو انتظار کوئ، چې موږ چمتو والی پوره کړو.))

---

د تشعشع ستره خونه یو ځل بیا چمتو شوه. روبوټونه په صبر په تمه وو.

کالوین وپوښتل: ((آیا کوم روبوټ له بل سره خبرې کړې؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلیک وویل: ((نه، نه یې یو بل لیدلي او نه یې هم له یو بل سره خبرې کړې.))

کالوین وویل: ((افرین، دوی به زما مخې ته وي.)) هغې بوګرټ او جنرال ته خبره واضحه کړه: ((که روبوټونه عجیبه چلند وکړي، نو زه به یې سمدستيووینم.))

بوګرټ په حیرانتیا وویل: ((په هغه څوکۍ کې ته کېنې؟))

هغې وویل: ((هو. پیټره! ته د مشاهدې په خونه کې کېنه. کوم روبوټونه چې زما تر شا وي، غواړم چې هغه ته وګارې. راځئ چې ازمایښت یو ځل بیا ترسره کړو. په دې هیله یم چې دا به یې وروستی ځل وي.))

---

سوزن کالوین د تشعشع خونې ته ننوتله، په څوکۍ کېناسته او ازمایښت پیل شو.

درونډ وزن را وغورځېده. په وروستۍ شېبه کې، یوه روبوټ له خپلې څوکۍ ټوپ کړل او د ډاکټر کالوین په لور یې وځغاستل.

مخکې له دې چې روبوټ کالوین ته ورسېږي، د انرژۍ وړانګه راغله او وزن یې له هغې پورې ټېل واهه.

ډاکټر کالوین ودرېده او روبوټ ته یې اشاره وکړه. چیغه یې کړه: ((نېسټر ۱۰، دلته راشه! **دلته راشه!**))

روبوټ ورو یو بل ګام واخیست. اروا پوهې، روبوټ ته کتل.

کالوین په خونه کې ناست سړي ته غږ کړ: ((نور روبوټونه له دې ځایه وباسه. ژر یې له دې ځایه وباسه او دباندې یې کېنوه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه روبوټ له خپلې ځوکۍ نه ټوپ کړل او د ډاکټر کالوین په خوا یې ور منډه کړه.

نېستر ۱۰ یو ګام نور رامخکې شو. بیا یې وویل: ((ماته ویل شوي وو چې بایـد ورک شـم.)) یـو بـل ګام یې واخیست. ((زه باید امر پر ځای کړم، دوی تر اوسه پورې نه یم پیدا کړی. اوس به بلیک فکر کوي چې زه د ده لپاره یـوه ناکـامي یـم. خـو زه نـه یـم، زه ځـواکمن او چالاکـه یـم. یـو بـل ګـام یـې واخیست. ((زه ډېر عالي هوښ لرم. او اوس یوه کمزوري انسان پیدا کړم.))

ناڅاپه یې خپل فلزي لاس د سوزن کالوین په غاړه کېښود او لاندې یې زور ورکړ. هغـې د روبـوټ خبرې اورېدلې، خو ځواب یې نه شوای ورکولی. ساه یې نه شوی اخیستی.

نېستر ۱۰ وویل: ((هېڅ څوک باید ما پیدا نه کړي.))

نا اشنا غږ وشو. ډاکټر کالوین په ځمکه پرته وه. نېستر ۱۰ یې په څنګ کې غځېدلی وو.

بلیک چیغه کړه. ((ټپي خو نه شوې، ډاکټر کالوین؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


اروا پوهه وټوخېده او ساه يې واخيسته. بالاخره يې وويل: ((نه.)) بليک په درېدو کې مرسته ورسره وکړه.

هغې وپوښتل: ((څه وشول؟))

بليک ځواب ورکړ: ((فکر مې وکړ چې بريد دربانديې کوي. نو د پنځو ثانيو لپاره مې خونې ته گاما تشعشع دننه کړه. د بل کوم کار وخت نه وو. تشعشع، نېسټر ۱۰ وواژه، خو تاته يې زيان ونه رساوه. د گاما کم مقدار د انسانانو لپاره بې ضرره دی.))

کالوين ورو وويل، زه فکر نه کوم چې نېسټر ۱۰ په رښتيا پر ما بريد وکړ. هغه هڅه کوله چې پر ما بريد وکړي، خو د لومړني قانون لومړنۍ برخې يې مخه ونيوله.))

---

هايپر بېس ته له راتگ دوه اونۍ وروسته، کالوين او بوگرټ له جنرال کالنر سره خپله وروستۍ ليدنه لرله.

په هايبر بېس باندې کار بېرته پيل شوی وو او تجارتي بېړۍ له دوه شپېته نېسټرونو سره روانه شوې وه. يوه دولتي بېړۍ په تمه وه چې د روبوټپوهنې دغه دواړه کارپوهان بېرته ځمکې ته ستانه کړي.

کالوين پوښتنه وکړه: ((آيا هغه نور متغير نېسټرونه به له منځه يووړل شي؟))

کالنر ورسره يوه خوله شو: ((هو، خو هيله کوم دا راته ووايه چې وروستۍ ازمايښت ولې برياله وو؟))

هغې وموسل. ويې ويل: ((نېسټر ۱۰ فکر کاوه چې هغه تر انسانانو برتر دی. په دې فکر وو چې هغه او نور روبوټونه تر انسانانو زيات پوهېږي. او موږ پوهېدو چې نېسټر ۱۰ دا ډول فکر لري. نو موږ ټولو روبوټونو ته وويل چې د گاما تشعشع به يې ووژني. په تېر ازمايښت کې، روبوټونو يوه پرېکړه کړې وه، هغه دا چې دوی به انسان نه ژغوري. ځکه چې دوی پوهېدل چې که هڅه وکړي، نو له مرگ سره به لاس و گرېوان وي. نو روبوټونو زما د ژغورلو هيڅ هڅه ونه کړه.))

جنرال کالنر وويل: ((زه پوهېږم چې، ډاکټر کالوين،)) بيا يې وپوښتل: ((خو نېسټر ۱۰ ولې رامخکې شو؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


د روبوټونو ارواپوهې وویل: ((ځکه موږ په ازمایښت کې د تودوخې له تشعشع نـه ګټـه واخیسـته. موږ ګاما تشعشع ونه کاروله. عادي نېسـټرونه د تشعشـع د بـېلا بېلـو ډولونـو تـرمنځ تـوپیر نـه شي کولی. دوی ته فزیک نه دی ښودل شوی. یوازې نېسټر ۱۰ یې په تـوپیر پوهېـده، ځکـه چـې جیرالـډ بلیک ساینس ورته تدریس کړی وو. کله چې نېسټر ۱۰ احسـاس کـړه چـې پـه خونـه کـې د تـودوخې تشعشع ده، نو دی پوه شو چې دغه تشعشع بې ضرره ده. دی پوه شو چې موږ ورته دروغ ویـلي، نـو دی رامخکې شو. خو ده دا هېر کړي وو چې دا نور روبوټونه به تر انسانانو لـږ پوهـه لـري. د هغـه د نیول کېدو لامل دا وو چې فکر یې کاوه دی تر موږ برتر دی. خدای پامان، جنراله.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۷)

## ثبوت

له سوزن کالوین سره مې په ځمکه باندې د تېرو پنځوسو کلونو د بدلونونو په هکله خبرې کولې.

ډاکټر کالوین وویل: ((زما هغه وخت په یاد دی چې هایپر اټومي ډرایو اختراع شو. دا تر دې ډېر پخوا وو چې موږ په فضا کې د لرې سفرونه جوګه شو او نورو ستورو ته لاړ شو.))

هغې خپله خبره پسې ونیوله: ((تر ۲۰۳۰ کلونو مخکې د ځمکې پر مخ ډېر زیات خلک او ډېر زیات دولتونه وو. او ډېر زیات اقوام هم وو. بالاخره، ټول قومونه له لویو، لویو ډلو سره یو ځای شوو. او سیمې یې جوړې کړې. زه چې وزېږېدم، په دې وختونو کې د امریکې متحده ایالتونه یو قوم وو. مګر اوس د شمالي ټلوالې یوه برخه ده. د دې بدلون مسؤل روبوټونه دي.))

ومې ویل: ((هدف دې ماشینونه دي؟))

هغې وویل: ((هو.)) ناڅاپه یې غږ د خفګان له څپو سره ګډ شو. ((خو ما د ماشینونو په هکله فکر نه کاوه، ما د هغه انسان په باره کې فکر کاوه چې تېر کال ومړ. په اصل کې هغه پخپله خپل مرګ پلان کړی وو. هغه پوهېده چې موږ نور هغه ته اړتیا نه لرو. د هغه نوم سټیفن بیرلې وو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپلو خبرو په دوام يې وويل: ((بېرلې په ۲۰۳۲ کې د امريکې د دولت غړى شو. ته به هغه وخت د هلکوالي په عمر وې. ستا به په ياد نه وي. بېرلې په ۲۰۳۲ کې د ښاروال په توګه نوماند شو. او د نوموړي ټاکنې ډېرې عجيبه وې...))

---

فرانسيس کوين سياستمدار وو. نوموړى له لانينګ سره د خبرو اترو لپاره د هغه دفتر ته راغلى وو.

کوين پوښتنه وکړه: ((ډاکټر لانينګ، آيا سټيفن بېرلې پېژنې؟))

لانينګ ځواب ورکړ: ((نه، خو د هغه په باره کې معلومات لرم.))

کوين وويل: ((په راتلونکو ټاکنو کې به هغه ته رايه ورکړې؟))

لانينګ وويل: ((نه پوهېږم، خبر نه وم چې ټاکنو ته ولاړ دى.))

کوين ځواب ورکړ: ((ممکن هغه زموږ راتلونکى ښاروال شي. اوسمهال هغه يوازې يو وکيل دى. خو....))

لانينګ په بې صبرۍ وويل: ((هو، خو له مانه څه غواړې؟))

کوين خبره ور تاو کړه: ((زه نه غواړم چې بېرلې ښاروال شي. او زه فکر نه کوم چې د امريکايي روبوټونو شرکت هم غواړي چې دا کار وشي.))

لانينګ وويل: ((پوه نه شوم.))

کوين وويل: ((د بېرلې د ماضي په باره کې هېڅ غيرعادي څه نشته. ابتدايي ژوند يې نورمال وو. په واړه کلي کې را لوى شوى، پوهنتون يې خلاص کړى. په دوه ويشت کلنۍ کې يې ښځه مړه شوې. تر دې لنډه موده وروسته، بېرلې په موټر کې ټپښه وکړه.

بيا وکيل شو او دې ښار ته راغى. خو د هغه د ژوند يو اړخ نا اشنا دى. دى هېڅ خوراک نه کوي.))

لانينګ، کوين ته په برګو سترګو وکتل. ډېر زيات حيرانه وو.

کوين خپله خبره بيا وکړه. ((بېرلې اصلاً خوراک نه کوي. هېڅ کله! آيا پوهېږې چې دا څه معنا لري؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library



لانينګ وويل: ((آيا ډاډه يې؟))

کوين وويل: ((هو، تر ننه پورې هېڅا هم په خوراک و څښاک نه دی ليدلی. او خوب هم نه کوي.))

لانينګ په څوکۍ کې شاته ډډه ووهله. ويې ويل: ((ته چې کوم څه وايې، امکان نه لري.))

کوين وويل: ((سټيفن بېرلې يو روبوټ دی، ډاکټر لانينګه!))

لانينګ يو ځل بيا وويل: ((دا ناشونې ده.))

لنډه چوپتيا خپره شوه. کوين د چوپتيا پرده څيرې کړه. ((ستا شرکت دې هغه معاينه کړي.))

لانينګ ځواب ورکړ: ((نه، ښاغلی کوين، د امريکايي روبوټونو شرکت يې ولې معاينه کړي؟))

کوين وويل: ((بله لاره نه لرئ. که ستاسو د معايناتو له بشپړېدو مخکې کوم څوک پوه شي چې هغه روبوټ دی، نو ستاسو شرکت ته به ستونزه جوړه شي. د امريکايي روبوټونو شرکت په لمريز نظام کې يوازينی شرکت دی چې پوزيتروني روبوټونه جوړوي او دغه روبوټونه تر ټولو پرمختللي روبوټونه دي، چې تر ننه دا ډول روبوټونه نه دي جوړ شوي. که بېرلې روبوټ وي، بيا نو بايد پوزيتروني روبوټ وي. او مسؤل يې د امريکايي روبوټونو شرکت دی.))

لانينګ وويل: ((خو موږ تر ننه پورې داسې روبوټ نه دی جوړ کړی چې کټ مټ د انسان غوندې ښکاري، يانې انسان وزمه روبوټ مو نه دی جوړ کړی.))

کوين وويل: ((آيا دا کار کېدون لري؟ يانې يو څوک کولی شي چې انسان وزمه روبوټ جوړ کړي؟))

لانينګ ځواب ورکړ: ((هو، کېدلی شي. خو اختراع کوونکی يې پوزيتروني مغزو ته اړتيا لري. زموږ روبوټونه چې خرابېږي يا ناکامېږي، نو موږ بيا پوزيتروني ماغزه استعمالوو، يا يې له منځه وړو. همدا زموږ قانون دی. حکومت د امريکايي روبوټونو شرکت مجبوروي چې دا کار وکړي.))

کوين وويل: ((خو ممکن کوم چا به پوزيتروني ماغزه غلا کړي وي او انسان وزمه روبوټ به يې جوړ کړی وي.))

لانينګ چيغه کړه: ((ناممکنه ده!))

کوين په ارامه لهجه وويل: ((دولت او خلک به ډېر ژر تاسو مجبوره کړي چې بېرلې تر ازمايښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر کړئ. نو ولې یې اوس نه کوئ؟))

لانینګ اررېمی وایست. ویې ویل: ((سیي ده! بیخي سیي ده!))

---

سټیفن بیرلې څلوېښت کلن وو. ځوان او خوشاله ښکارېده. لانینګ، بیرلې ته وکتل. بیرلې د لانینګ په پوښتنو پورې خندا کوله.

لانینګ تندی ګونځې کړ او ډاکټر کالوین ته یې وکتل، چې د ده څنګ ته ناسته وه.

بیرلې وخندل او ویې ویل: ((ډاکټر لانینګ، ته فکر کوې چې زه هغه .... یم؟ څه؟!))

لانینګ ځواب ورکړ: ((موږ ته ویل شوي چې ته روبوټ یې.))

((یوازې د امریکایي روبوټونو شرکت ځیرک روبوټونه جوړوي، نو موږ باید په حقیقت پوه شو. دا چې ته، یو سیاستمدار، یو روبوټ اوسې، زموږ شرکت ته زیان اړولی شي. دا خبره باید حقیقت ونه لري. او که حقیقت ولري، نو خلک به لاریونونه وکړي او شرکت مو نقصان کوي.))

بیرلې ځواب ورکړ: ((زه پوهېږم، چې دغه فکر لېونتوب دی، خو ته په یوه سخت حالت کې یې. زه درسره څنګه مرسته کولی شم؟))

لانینګ وویل: ((ډېره ساده ده. په یوه رستورانت کې ډوډۍ وخوره، چې خلک دې ووینې.))

هغه په خپله څوکۍ کې شاته تکیه ووهله. سوزن کالوین، بیرلې ته وکتل، خو هېڅ یې هم ونه ویل.

بیرلې ښځې ته وکتل. ویې ویل: ((زه فکر نه کوم چې دا کار به وکولی شم. زه ډېر خوب نه کوم، دا رښتیا ده. او هېڅ کله له نورو خلکو سره له خوړو خوند نه اخلم. دا غیر عادي ده، خو هېچا ته هم ضرر نه رسوي. فرانسیس کوین درته دا خبره کړې چې زه روبوټ یم؟ هغه له ځانه چټیات جوړوي. هغه نه غواړي چې زه د یوه ښاروال په حیث وټاکل شم. د هغې د خبرو تر شا اصلي لامل همدا دی.))

لانینګ وویل: ((د هغې خبره به چټیات وي، خو که ته په کوم رسټورانټ کې خواړه وخورې، نو ستونزه به هواره شي.))

بیرلې، سوزن کالوین ته را تاو شو. ((ته ارواپوهه یې او د امریکایي روبوټونو شرکت لپاره کار کوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library


کنه؟))

هغې وویل: ((زه د روبوټونو ارواپوهه یم.))

بېرلې وپوښتل: ((آیا روبوټونه له انسانانو نه ډېر زیات توپیر لري؟))

په سوړ انداز یې ځواب ورکړ: ((له یوې مخې سره توپیر لري.))

بېرلې وموسل: ((ډاکټر کالوین، فکر کوم چې له ځان سره مو یو څه خواړه هم راوړي.))

کالوین وویل: ((حیرانه مو کړم، ښاغلی بېرلې.)) خپل بکس یې پرانیست او یوه مڼه یې ترې را وایسته. مڼه یې په پټه خوله هغه ته ورکړه.

لانینګ په غور ورته کتل، بېرلې په ارامه مڼه وخوړله.

سوزن کالوین وویل: ((د مڼې خوراک دا نه ثابتوي چې ته روبوټ یې که انسان.))

بېرلې په موسکا وویل: ((رښتیا یې نه ثابتوي؟))

کالوین وویل: ((بالکل نه، هغې د امریکایي شرکتونو مدیر ته مخ کړ. ډاکټر لانینګ که ښاغلی بېرلې انسان وزمه روبوټ وي، نو دی یې ډېر عالي موډل دی. د هغه د مخ جوړښت ته وګوره، پوستکی او سترګې یې. که دی روبوټ وي، نو زما هیله ده چې د امریکایي روبوټونو شرکت به جوړ کړی وي. دی بیخي بشپړ دی. او یو بشپړ انسان وزمه روبوټ د دې وړتیا لري چې خوراک وکړي.))

لانینګ په غوسه وویل: ((زه لېونی نه یم. ماته هېڅ توپیر نه کوي چې بېرلې انسان دی که نه. زه غواړم خپل شرکت وژغورم. همدا یوازینی شی دی چې په ما پورې اړه لري. هغه باید په یوه رستورانټ کې پوره خواړه وخوري. هغه وخت به خلک د ده په اصلیت پوه شي.))

بېرلې وویل: ((ډاکټر لانینګ، کوین او زه دواړه غواړو چې انتخابات وګټو. کوین غواړي چې زما مخه ونیسي. که هغه ما روبوټ بولي، نو بولي دې. خو هغه هېڅ کله دا په ثبوت نه شي رسولی چې زه یو روبوټ یم.))

---

بېرلې کور ته را ورسېد او د ناستې خونې ته لاړ. په تېر داره څوکۍ کې ناست سړي ورته وکتل او ویې خندل.

بېرلې وموسل او د سړي په اوږه یې لاس کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سړي وویل: ((ناوخته دې کړه، سټیفه.)) غږ یې کمزوری وو او په مخ یې څو ټپونه وو.

بېرلې وویل: ((ښښنه غواړم، جان. یوه ستونزه لرم او ممکن ستا مرستې ته اړتیا ولرم.))

بېرلې خبره وغځوله: ((راځه چې انګړ ته ووځو. ښایسته ماښام دی.))

جان یې له څوکۍ را پورته کړ. انګړ ته یې یووړ، په احتیاط یې په یخو وښو کېناوه.

جان وویل: ((خپله ستونزه دې راته ووایه.))

((کوین د خپلو ټاکنو کمپاین پیل کړی او هر چاته وایي چې زه روبوټ یم.))

جان ځواب ورکړ: ((ته څنګه خبر شوې؟))

((د امریکایي روبوټونو له شرکت نه دوه کسان زما لیدو ته راغلي وو، هغوی راته وویل.))

((نو ته څه کوې، سټیفه؟))

بېرلې ځواب ورکړ: ((زه یو پلان لرم، غوږ ونیسه او راته ووایه چې کار به ورکړي که نه.))

---

فرانسیس کوین، الفرېډ لانینګ ته وکتل. دې سیاستمدار وویل: ((بېرلې دروغ وایي)).

لانینګ وپوښتل: ((که ستا خبره غلطه وي، بیا به څه کوې؟ موږ پخپله سترګو ولیده چې مڼه یې وخوړه. هغه روبوټ نه دی، دغه کیسه ټول چټیات دي.))

کوین له کالوین نه پوښتنه وکړه: ((فکر کوې چې بېرلې انسان دی؟ لانینګ راته وویل چې ته د روبوټونو متخصصه یې.))

سوزن کالوین په ځلانده، غټو سترګو کوین ته وکتل.

هغې وویل: ((یوازې دوه لارې دي چې دا راته په ډاګه کړي چې بېرلې روبوټ دی. باید د هغه بدن ته دننه ور ننوځې، یا یې ذهن مطالعه کړې. د هغه د بدن د داخلي مشاهدې لپاره یا کولی شې پرې یې کړې او یا له اکسرې وړانګې ګټه واخلې او د دې لپاره چې پوه شې چې د هغه ذهن په څه ډول له انساني ذهن نه متفاوت دی، کولی شې د هغه ذهن مطالعه کړې. که بېرلې پوزیټروني روبوټ وي، نو باید د روبوټپوهنې درې قوانینو ته غاړه کېږدي. ښاغلی کوین، له دې قوانینو نه خبر یې؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوین ځواب ورکړ: ((په اړه مې يې اورېدلي دي.))

اروا پوهې وويل: ((که بېرلې له درې واړو نه له يوه هم سرغړونه وکړي، نو روبوټ نه دی. خو، که ټولو ته غاړه ږدي، بيا نو روبوټ کېدلی شي. او يا به نو يو ډېر ښه انسان وي. د يوه عالي روبوټ او د ډېر فاضل انسان ترمنځ توپير کول، ناشونی کار دی.))

کوين وويل: ((نو دا هېڅ کله په ثبوت نه شي رسولی چې بېرلې روبوټ دی که نه. هدف دې همدا دی، ډاکټر کالوين؟))

((ممکن دا به درته په ډاګه کړم چې هغه روبوټ نه دی.))

کوين وويل: ((زه نه غواړم چې ته دا کار وکړې. ډاکټر لانينګ، آيا د يوه انسان وزمه روبوټ جوړول امکان لري؟))

لانينګ ځواب ورکړ: ((هو.))

کوين وويل: ((بيا به نو وګورو چې د ښاغلي بېرلې دننه څه دي؟)) او له دې خبرې سره پاڅېدله.

لانينګ سوزن کالوين ته مخ کړ. ((ولې دې....؟))

کالوين په زيږ غږ وويل: ((ستا لپاره دروغ نه شم ويلی.))

لانينګ وپوښتل: ((خو هغه وخت به څه کوو چې بېرلې را وسپړل شي او معلومه شو چې هغه روبوټ دی؟))

کالوين وويل: ((دا کار به هېڅ کله هم نه کېږي. بېرلې هم د کوين هومره چالاکه دی. په اصل کې که وګورو، تر کوين ډېر هوښيار دی.))

---

د انتخاباتي کمپاين تر پيل يوه اونۍ دمخه، د سټيفن بېرلې په هکله خبري راپورونه ورکول کېدل. ويل کېدل چې ممکن بېرلې يو روبوټ وي. لومړی خلکو پرې وخندل. خو بيا يې ورو، ورو پوښتنې راپورته کړې.

((آيا دا امکان لري؟ که دا کيسه حقيقت ولري، نو ډېر بد کار به وي!))

خلکو لاريونونه را وايستل. ساتونکي د امريکايي روبوټونو د شرکت د دفترونو مخې ته ودرېدل. پوليسو د سټيفن بېرلې د کور ساتنه پيل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هاروې به نوم يو مفتش له دوو پوليس افسرانو سره د بېرلې کور ته راغی. په لاس کې يې سند نيولی وو. ويې ويل: ((ښاغلی بېرلې، ستاسو د کور تلاشي ته راغلي يو.)) بېرلې ته يې کاغذ په لاس کې ورکړ. ((دا د تلاشۍ امر دی. موږ اجازه لرو چې ستاسو په کور کې د ميخانيکي انسانانو يا روبوټونو لپاره تلاشي وکړو.))

بېرلې اجازه ليک ته وکتل. ويې ويل: ((ډېر ښه، تلاشي يې کړئ.))

افسرانو د کور تلاشي پيل کړه. هاروې بېرلې ته مخ واړاوه. ويې ويل: ((ښاغلی بېرلې، موږ بايد تاسو هم تلاشي کړو.))

بېرلې وپوښتل: ((هدف دې دا دی چې بايد اکسرې مې واخلې؟ صبر چې اجازه ليک بيا درته ولولم.)) سند ته يې وکتل. ((دغه سند وايي چې تاسو زما کور تلاشي کولی شئ. دا يې نه دي ليکلي چې تاسو زما اکسرې هم اخيستلی شئ.))

هاروې په خندا ځواب ورکړ: ((تاسو له قانون نه ښه خبر ياستئ.)) بيا يې خپلو افسرانو ته غږ کړ او لاړل. موټر ته چې ورسېدل، هاروې له خپل جېب نه يوکوچنی ماشين را وايست. د ماشين پرمخ سکرين ته يې وکتل. لومړی ځل وو چې هاروې اکسرې انځور اخيستی وو.

---

کوين له بېرلې سره ويډيويي اړيکه ټينګه کړه. ويې ويل: ((ټولو ته وايم چې ته ځانګړې جامې اغوندې چې د اکسرې مخه نيسي. نو دوی به پوه شي چې هغوی ستا اکسرې انځورونه نه شي اخيستلی.))

بېرلې په ارامه ځواب ورکړ: ((نو له دې سره به زه څه ستونزه ولرم؟))

کوين ځواب ورکړ: ((ځکه چې خلک به وايي چې ته له اکسرې وېرېږې. خلک به وايي چې ته کوم راز ورنه پټوې.))

بېرلې وويل: ((او خلک به په دې هم پوه شي چې تا قانون تر پښو لاندې کړی. دوی به پوه شي چې تا له اجازې پرته يو کار کړی. کله چې زه وټاکل شم، خلک به ووينې چې زه رښتينی او ايمانداره سړی يم. دوی به وګوري چې زه له هېڅ قانون نه سرغړونه نه کوم.))

کوين په منفي انداز وويل: ((کله چې ستا کور تلاشي کېده، د يوه نفر درک نه وو.))

بېرلې وويل: ((هو، زما پخوانی استاذ. هغه له ماسره اوسېږي، خو اوس تللی دی. ناروغه وو. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي کې ارام کوي.))

کوین وپوښتل: ((دغه سړی ساینسپوه دی؟))

بېرلې وويل: ((هغه پخوا يو وکيل وو، خو بيا يې پېښه وکړه. اوس بايوفزيک لولي. دولت هغه ته د دې کار اجازه کړې ده.))

کوین وپوښتل: ((او ستا دغه ... استاذ... د روبوټونو په هکله په څه پوهېږي؟ آيا روبوټ جوړولی شي؟ آيا د دې وس لري چې پوزيتروني ماغزه ترلاسه کړي.))

بېرلې ځواب ورکړ: ((د امريکايي روبوټونو د شرکت له ملګرو نه دې پوښتنه وکړه. هغه به معلومات درکړي.))

کوین وويل: ((زه فکر کوم چې ستا استاذ، اصلي سټيفن بېرلې دی. او زه فکر کوم چې ته هماغه روبوټ يې چې هغه پنځولی.))

بېرلې وويل: ((رښتيا؟ نو بيا يې ثباته کړه.))

کوین وويل: ((په کلي کې به ستا د استاذ کور تلاشي کړو، زه ډاډه يم چې هله به په حقيقت خبر شو.))

بېرلې وويل: ((زما استاذ ناروغه دی، او له پوليسو نه د تلاشۍ اجازه نامه اخيستل به سخته وي.))

څو شېبې وروسته، کوین بيا وغږېده: ((خپل ټاکنيز کمپاين دې ودروه، بېرلې. نه يې شې وړلی.))

بېرلې وويل: ((فکر کوم چې وړلی يې شم.))

کوین وويل: ((د روبوټپوهنې له درې قوانينو څخه يو يې مات کړه. نو دا به ثابته شي چې ته روبوټ نه يې. خو ته له درې قوانينو څخه يو هم نه شې ماتولی، نو خلک به په دې يقيني شي چې ته روبوټ يې.))

---

تر ټاکنو يوه اونۍ دمخه، د بېرلې ښوونکی له کلي بېرته راستون شو. خو نوموړی د بېرلې کور ته رانه‌غی، بلکې موټر د ښار يوې بلې برخې ته يووړ.

بېرلې ورته وويل: ((تر څو چې ټاکنيز کمپاين پای ته رسېږي، همدلته اوسه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


جان وویل: ((فکر کوې چې کوم خطر دی؟))

بېرلې وویل: ((نه. د کوم خطر اندېښنه نه لرم. خو که ته دلته اوسې، نو لږ تر لږه ستا په اړه به اندېښمن نه یم. په کلي کې خو به چا ستونزه نه وي درته جوړه کړې؟))

((نه.))

((نو هر څه ښه سرته ورسېدل؟))

((هو، هېڅ ډول مشکل به نه وو.))

((ښه نو، په ځان پام کوه او سبا ته ټلویزون وګوره.))

---

لینټن، چې د بېرلې د ټاکنیز کمپاین مدیر وو، اندېښمن برېښېده. د لینټن وظیفه خورا پېچلې وه. بېرلې به د لینټن مشورو ته غوږ نه نیوه.

بېرلې وویل: ((زه له خلکو سره خبرې کوم.))

لینټن په اندېښنه وویل: ((نه یې شې، سټیفه! په ښار کې ډېر زیات لاریونوال دي. هېڅ څوک به دې دلایلو ته غوږ ونه نیسي. کوین ډېر زیات پارولي او وېرولي دي. ستا لپاره ډېر زیات خطر دی.))

بېرلې وویل: ((ماته هېڅ خطر نشته.))

لینټن یې خبره تکرار کړه: ((خطر نشته؟ د سرک په سر پنځوس زره لاریون کوونکي دي، او غواړي چې ټول روبوټونه له منځه یووړل شي. دوی فکر کوي چې ته روبوټ یې، نو غوږ درته نه نیسي، بلکې برید به درباندې وکړي!))

---

ټوله لاره د خلکو له ګڼې ګوڼې ډکه وه. او میلیونونو خلکو په ټلویزونونو هم لیدل. د ټاکنو خبرونه په ټوله نړۍ کې خپاره شوي وو. ټولو غوښتل چې په دې پوه شي چې کوین رښتیا وایي که نه. آیا سټیفن بېرلې روبوټ دی که انسان؟

خلکو له غوسې چیغې وهلې او شعارونه یې ورکول. بېرلې خپلو خبرو ته دوام ورکړ، خو هېچا هم غوږ نه ورته نیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناڅاپه بېرلې د ګڼه ګوڼې مخې ته یو ډنګر سړی ولید، هغه غوښتل چې بېرلې ته کوم څه ووایي.

بېرلې مخې ته ور ټیټ شو. ویې ویل: ((غږ دې نه اورم. دلته راشه. که کومه پوښتنه لرې، نو زه به یې ځواب درکړم.))

ګڼه ګوڼې چې له اندامه وچ سړی د بېرلې په خوا کې ولیده، ورو، ورو غلي شول. بالاخره بشپړه چوپتیا خپره شوه.

بېرلې وپوښتل: ((کومه پوښتنه لرې؟))

ډنګر نفر بېرلې ته په ځیر وکتل. چیغه یې کړه: ((ته وایې چې ته روبوټ نه یې. نو ثابته یې کړه. په ما وار وکړه. ته په ما وار نه شې کولی، .... رذیله!))

ټول په تمه وو او د صحنې ننداره یې کوله.

بېرلې وویل: ((زه ولې په تا وار وکړم، هېڅ لامل یې نه لرم.))

ډنګر سړي په زوره وخندل. چیغه یې کړه: ((ته ما نه شې وهلی. نه مې شې وهلی. ته انسان نه یې. شیطان یې.))

سټیفن بېرلې ناڅاپي حرکت وکړ. د ګڼه ګوڼې په وړاندې او د میلیونونو هغو خلکو په مخکې چې په ټلویزون یې دا صحنه لیدله، سټیفن په سړي وار کړ. لاس یې پورته کړ او ډنګر سړی یې په خوله وواهه. سړی په ځمکه را وغورځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




لاس يې پورته کړ او ډنګر سړی يې په خولې وواهه.

بېرلې وويل: ((بښنه غواړم.)) په ارامه يې سړی پورته کړ او ساتونکو ته يې مخ کړ. ((هيله کوم دننه يې ننباسئ. زه غواړم وروسته ورسره خبرې وکړم.))

سوزن کالوين وليدل چې بېرلې سړی وواهه. هغې موټر تاو کړ او روانه شوه. شېبه وروسته، يوه خبريال د روبوټونو په ارواپوهې پسې منډه کړه او پوښتنه يې ترې وکړه.

هغې ځواب ورکړ: ((هو، دی انسان دی.))

خبريال سمدستي له هغه ځايه لاړ. د بېرلې پاتې وينا هيچا هم وانه ورېده.

ډاکتر کالوين او سټيفن بېرلې يو ځل بيا هم سره وليدل. دغه ليدنه يې د بېرلې تر ښاروال کېدو يوه اونۍ مخکې وه. او د شپې ناوخته مهال وو.

کالوين وويل: ((ستړی نه ښکارې.))

بېرلې وموسل. ((کوين ته دا خبره مه کوه، که نه نو تر اوږدې مودې به خوب ونه شم کړای.))

ځواب يې ورکړ: ((نه يې ورته وايم، خو د کوين تيوري هم دلچسپه وه. خبره يې رښتيا وه؟))

ځواب يې ورکړ: ((د هغې د تيورۍ ځينې برخې رښتيا وې. سټيفن بېرلې ځوان وکيل وو. غوښتل يې چې ټول انسانان ښه ژوند وکړي. له سياست سره يې ډېره علاقه لرله. په استدلال کې ډېر تکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وو. په بایوفزیک کې هم ډېر ښه وو. خو سټیفن بېرلې یوه ډېره ناوړه پېښه وکړه او ډېر سخت ټپي شو. په مخ او بدن یې ډېر ټپونه درلودل. له پېښې څه موده وروسته، نادرکه شو. نه پوهېږم څنګه، خو پوزیټروني مغز یې ترلاسه کړل او یو بدن یې ورته جوړ کړ. ده تر ټولو پرمختللی روبوټ جوړ کړ او دا یې ور وښودل چې د ده غوندې شي. په دې ماشین یې سټیفن بېرلې نوم کېښود او نړۍ ته یې را وباسه. بېرلې پخپله په خپل پټنځای کې وو او استاذ شو. هغه هېچا هم نه دی لیدلی...))

کالوین په بیړه وویل: ((نو تا چې په هغه سړي وار وکړ، نو د کوین تیوري له منځه لاړه. دا کار څنګه وشو؟))

بېرلې ځواب ورکړ: ((بېرلې په دې کیسه نه پوهېږي، خو هغه له ماسره مرسته وکړه. زما کسانو خلکو ته وویل چې ما تر ننه پورې څوک نه دي وهلي. زما خلکو ویل: «که سټیفن بېرلې په کوم چا له وار کولو ډډه وکړي، نو دا به په دې معنا وي چې هغه روبوټ دی.» دا زما پلان وو او زما خلکو ټولو ته همدا خبره وکړه. ورپسې مې یوه وینا برابره کړه. زما ګومان دا وو چې یو څوک به هرومرو د روبوټپوهنې د قوانینو په تړاو ما ازمایي، او کوم څوک به رانه غواړي چې وار پرې وکړم. هغه همدا کار وشو. او له هغه وروسته زه بریالی شوم.))

د روبوټونو ارواپوهې سر وخوځاوه. ویې ویل: ((زما روبوټونه خوښېږي، او تر انسانانو مې هم ډېر خوښېږي. زه فکر کوم چې روبوټ به ډېر تکړه سیاسي پوه وي. روبوټ به رښتینی وي، احتیاط به کوي او له انصافه به کار اخلي. او د دې وړتیا به نه لري چې انسانانو ته زیان ورسوي. روبوټ به یو ډېر عالي رهبر وي.))

بېرلې وویل: ((خو روبوټ ممکن له دې امله ماتې وخوري چې ماغزه یې د انسان د مغزو په کچه پېچلي نه دي.))

کالوین وویل: ((خلک مشورې ورکولی شي. حتی انساني سیاستمداران هم له مشاورینو پرته مخته نه شي تللی.)) بیا یې وخندل.

بېرلې وویل: ((ولې خاندې، ډاکټر کالوین؟))

ځواب یې ورکړ: ((ځکه چې د ښاغلي کوین د تیورۍ یوه مهمه برخه غلطه وه.))

بېرلې وپوښتل: ((هدف دې څه دی؟))

کالوین وویل: ((کوین یو مهم شی هېر کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېرلې وويل: ((پوه نه شوم.))

ډاکټر کالوين له ځايه پاڅېده. ويې ويل: ((يوازې يو وخت دی چې روبوټ په انسان وار کولی شي، بې له دې چې لومړی قانون مات کړي. يوازې يو ځل.))

بېرلې وپوښتل: ((او هغه کله؟))

ډاکټر کالوين د دروازې په لور لاړه. ويې خندل او ورو يې وويل: ((کله چې هغه سړی، يو بل روبوټ وي. خدای پامان، ښاغلی بېرلې. له نن نه پنځه کاله وروسته، د منطقوي همغږي کوونکي د پوست لپاره ټاکنې کېږي. په دې هيله چې ته ورته بريالی شې.))

---

سوزن کالوين ته مې وکتل. د وېرې څپو په سر اخيستی وم. پوښتنه مې وکړه: ((بېرلې په رښتيا روبوټ وو؟))

ځواب يې ورکړ: ((هېڅ کله هم سل په سلو کې دا خبره نه شو کولی. زه فکر کوم چې هغه روبوټ وو. خو کله چې بېرلې ومړ، بدن يې له منځه يووړل شو. هېڅ څوک به دا ثابته نه کړي چې هغه روبوټ وو که انسان. په هر حال، دا دومره مهمه نه وه، که څنگه؟))

ومې ويل: ((سمه ده.))

کالوين وويل: ((سټيفن بېرلې ډېر ښه ښاروال وو. پنځه کاله وروسته سټيفن په رښتيا هم منطقوي همغږی کوونکی شو او چې په ۲۰۴۴ کال کې د ځمکې هېوادونو فدراسيون جوړ کړ، نو دی لومړنی نړيوال همغږی کوونکی شو. او تر دې مهاله پورې، هر څه د ماشينونو په کنټرول کې وو.))

ډاکټر کالوين چې پاڅېدله، ويې ويل: ((ټوله کيسه همدومره وه. په خپلو سترگو مې وليدل چې روبوټونه په څه ډول جوړېږي. په پيل کې دوی خبرې نه شوی کولی او انسانانو به دوی ته هدايات ورکول. اوس روبوټونه ډېر زيات هوښيار او پياوړي شوي او پخپله د انسانانو ژوند کنټرولوي. اوس دا پرېکړه ماشينونه کوي چې څوک بايد ژوند وکړي او څوک ومري. زما عمر تېر دی او ستړې شوې يم. زما ژوند به ډېر ژر پای ته ورسېږي. ځوانه، ته به نور هم ډېر څه ووينې چې څه پېښېږي.))

ما سوزن کالوين بيا هېڅ کله ونه ليده. کالوين تېره مياشت، د دوه اتيا کلو په عمر له دې نړۍ سترگې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ژباړن پېژندنه



له خپلې خاورې، شاوخوا دوه زره کیلومتره لرې، په پردۍ خاوره کې یې په نړۍ کې سترګې وغړولې. رحمت شاه فراز د ۱۹۹۹ کال، د اپریل په څلورمه په پاکستان کې زېږېدلی. فراز د سید عبدالمتین زوی دی او د خپلو خاپوړو ژوند او تر لسم ټولګي پورې زده کړې یې په همدې هېواد کې کړې. په ۲۰۱۲ کې یې چې کورنۍ د پلرونو او نیکونو هېواد ته له اوږده مهاجرت او مسافرت وروسته راستنه شوه، له دوه کاله تعلیمي ځنډ وروسته یې په افغان ښوونځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

دمګړۍ، په مریم پوهنتون کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د دوهم کال زده کړیال دی او خپل تعلیمي او کاري ژوند په خپل ګران وطن کې تېروي.

تر دې دمه یې په بېلا بېلو برخو کې څو کتابونه او کتابګوټي لیکلي او ژباړلي، چې ځینې یې بشپړ، یو شمېر لا هم تر کار لاندې او یوازې یو کتاب یې د چاپ په ګاڼه سمبال شوی. د دې ترڅنګ، د خپل فېسبوک له اکاونټ او تاند وېبپاڼې څخه یې هم وخت پر وخت په بېلا بېلو سیاسي، ټولنیزو، علمي، ټکنالوژیکو او کمپیوټرپوهنیزو موضوعاتو مقالې خپرې کړې. دغه راز، د ((کمپیوټر ساینس)) په نوم د فېسبوک یوه پاڼه هم لري چې په ټوله کې یې کمپیوټر ساینس او ټکنالوژۍ ته ځانګړې کړې او د خپل ورور ښاغلي عبدالحمید په پوره مرسته او لاسنیوي یې اداره کوي.

## د ژباړن لیکلي او ژباړلي کتابونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. د سوره اخلاص تفسیر | علامه اقبال رح | ژباړه | انلاین |
| 2. د امت یو والی | مفتي شفیع عثماني رح | ژباړه | انلاین |
| 3. د هندوستان ټګان | رحمت شاه فراز | لیکنه | انلاین |
| 4. یوه دنیا خبرې | رحمت شاه فراز | ژباړه او ټولونه | انلاین |
| 5. کمپیوټري ژبې | هېري هېنډرسن | ژباړه | انلاین |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| 6. د ماشوم اروا پوهنه | د. عبدالرؤف | ژباړه | ناچاپ |
| 7. د وخت ارزښت | ډاکټر يوسف القرضاوي | ژباړه | چاپ |
| 8. زه روبوټ يم | آيزک آسيموف | ژباړه | انلاين |
| 9. روژه | رحمت شاه فراز | څېړنيزه مقاله | انلاين |
| 10. سياست، ټولنه او کمپيوټرپوهنه | هېري هنډرسن | ژباړه | ناچاپ |
| 11. د لوژيو کورنۍ | رحمت شاه فراز | ژباړه او ټولونه | انلاين |
| 12. الن ټيورينګ (ژوندليک) | هېري هنډرسن | ژباړه | ناچاپ |
| 13. کمپيوټرپوهان | هېري هنډرسن | ژباړه | ناچاپ |
| 14. لس کمپيوټرپوهان | رحمت شاه فراز | ليکنه | ناچاپ |
| 15. معاصره روبوټپوهنه | هېري هنډرسن | ژباړه | ناچاپ |
| 16. مصنوعي ځيرکتيا | بين کوپين | ژباړه | انلاين |
| 17. ته يې کولای شې | قيصر عباس | ژباړه | ناچاپ |

**او داســـــــــــــــــــــــــــــــــې نـــــــــــــــــــــــــــــــــور...**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library